د سپیڅلي کتاب د څیړنې
او شاګرد جوړونې دولس اونیزه کورس

کارلوس دییاز

© Copyright 2006
First Edition 2006
Printed by
SPS Publications

Second Edition 2014
Designer
Black Tie Digital Marketing
Printed By
SPS Publications, Inc.

Scripture taken from the NEW AMERICAN STANDARD BIBLE®, © Copyright 1960, 1962, 1963, 1968, 1971, 1972, 1973, 1975, 1977, 1995 by The Lockman Foundation. Used by permission.
www.Lockman.org

دا کتاب ټولو هغو ته وقف شویدی

چې د خدای کلام په اخلاص سره زده کوي ترڅو له هغې سره د زړه له کومې مینه ولري او د هغې اطاعت وکړي.

د درسونو د محتویاتو لړلیک (فهرست)

د کتاب لنډه پیژندنه

د دې کورس بنسټیزه لارښوونه ۳
د هرې اونۍ عنوانونو ته کتنه او د هرې اونۍ د شخصیتونو پیژندنه ۴

د سپیڅلي کتاب څیړنه

لومړۍ اونۍ
پیدایښت / آدم ۵
دویمه اونۍ
د یهودو د قوم مشر / ابراهیم ۹
دریمه اونۍ
وتل / موسی ۱۴
څلورمه اونۍ
برلاسي او بریا / یوشع ۱۹
پنځمه اونۍ
منصفان (قاضیان) / جدعون ۲۴
شپږمه اونۍ
پاچاهي / داؤد ۲۹
اومه اونۍ
جلا وطني (تبعید) / دانیال ۳۴
اتمه اونۍ
بیرته راستنیدل / نحمیا ۳۹
نهمه اونۍ
چوپتیا / (د لوستونو د بیا کتنې اونۍ)..... ۴۴
لسمه اونۍ
انجیل / عیسی مسیح ۴۹
یوولسمه اونۍ
کلیسا / پطروس ۵۴
دولسمه اونۍ
ماموریت او رسالت / پولس ۵۹

د لوستونو ضمیمې (پای لیکونه)

د سپیڅلي کتاب د کتابونو ویشنه او نومونه ۶۵
د سپیڅلي کتاب د کتابونو د نومونو لنډیز ۶۷
د هرې اونۍ د لوست د عنوان او د هغې پورې د اړوند شخصیت بیاکتنه .. ۶۹
د خدای د کلام حفظي آیتونه ۷۰

د کتاب لنډه پیژندنه

ښه راغلاست! دا کتاب تاسو ته د ټول سپیڅلي کتاب یعنې د زوړ تړون او نوي تړون یو عمومي انځور وړاندې کوي. دا لوستونه تاسو ته ښیي چې څرنګه د سپیڅلي کتاب کتابونه د یو بشپړ کتاب په څیر سره راټول شویدي. د دې لپاره چې سپیڅلی کتاب لا ښه درک او زده کړو، موږ دا کتابونه د محتوا او د هغوی د پیښیدو د وخت او زماني له مخې سره سم په وړو برخو ویشلي دي. په دې کتاب کښې نه یواځې دا چې د سپیڅلي کتاب د کتابونو ویشنه او نومونه زده کوو، بلکې د هغوی تاریخي اړیکې او د پیښو تفصیل هم زده کوو. دا د دولس اونیو کورس په هره اونۍ کښې په یوه ځانګړې موضوع باندې تمرکز او بحث کوي.

مونږ او تاسو د دې کتاب د کیسو له لوستلو څخه خوند اخلو او په دې کتاب کښې د ذکر شوو شخصیتونو له ژوندانه څخه ژوندي لوستونه زده کوو. سپیڅلی کتاب د هغو نارینه وُ او ښځو د کیسو څخه ډک دی چې خدای هغوی غوره کړیدي او له هغوی څخه یې استفاده کړیده. مونږ د دې شخصیتونو د ژوندانه د کیسو په لوستلو سره د خدای په هکله ډیر څه زده کوو. او همدا رنګه دا زده کوو چې څرنګه د خدای د خوښې وړ ژوندون ولرو.

په هر لوست کښې به مونږ د یوه شخصیت ژوند وڅیړو، د هغه د ژوندانه کیسه به ولولو، د هغه د کیسې په اړوند به تاریخي ځایونه وپیژنو، د هغه د ژوندانه ستري پیښې به ولولو، د خدای سره د هغه د اړیکې په هکله به نوي شیان زده کړو او و به وینو چې هغه څرنګه په عمل او وینا کښې خپل ایمان ثابت کړ. پدې توګه به مونږ وکړای شو چې د دې کیسو څخه ښه درسونه زده کړو او هغه پخپل ورځني ژوندانه کښې پلي کړو.

د دې کتاب له مطالعې څخه زمونږ موخه څه ده؟

۱. د سپیڅلي کتاب د کتابونو نومونه وپیژنو او زده یې کړو.
۲. څو برخې چې د سپیڅلي کتاب کتابونه په هغو ویشل شویدي زده کړو.
۳. پدې هکله به زده کړو چې دا کتابونه د پیښو د پیښیدو په ترتیب څنګه ترتیب شویدي.
۴. د سپیڅلي کتاب په هکله پوهه او تاریخي معلومات ترلاسه کړو.
۵. پدې هکله به معلومات ترلاسه کړو چې د سپیڅلي کتاب د مهمو پیښو او مهمو شخصیتونو په هکله معلومات د سپیڅلي کتاب په کومو برخو کښې ځای پر ځای شویدي او د پیښو د پیښیدو د زماني له پلوه څرنګه یو له بل سره اړیکې لري.
۶. د سپیڅلي کتاب د یو شمیر غوره شویو شخصیتونو د ژوندانه کیسې ولولو.
۷. دا زده کړو چې کوم درسونه مونږ د دې خلکو له ژوندانه څخه زده کړي دي، هغه پخپل ژوندانه کښې څه ډول عملي کړو.
۸. تر څو د هرې برخې حفظي آیتونه حفظ کړو.
۹. تر څو دا زده کړو چې څرنګه دا درسونه نورو ته ور زده کړو.

یادونه:

دا درسي مواد د زده کړې په بیلابیلو شرایطو کښې د استفادې او پلې کولو وړ دی، یعنې کولای شی چې د ښوونکی او زده کوونکی پواسطه په ځانګړي، دوه کسیز ډول او یا په ګروپي شکل چې تر ټولو غوره طریقه ده وکارول شي. او زده کوونکو ته دا فرصت ورکړي تر څو هغه څه چې یې زده کړي وي پخپل مینځ کښې یې سره شریک کړي او یو د بل سره د دې درس په لوستلو او زده کولو کښې مرسته وکړي.

دا چې یو ځل بیا د خدای د سپیڅلي کلام په لوستلو پیل کوو او د خدای د کلام په لوستلو سره د سپیڅلي کتاب د ټولنیزو شخصیتونو د لوی تاریخ او مهمو پیښو څخه لږ څه سرګردانه کیږو، مګر مونږ باید پریشانه نشو ځکه چې د خدای د کرکتر، ذات او کلام زده کړه یو سفر دی چې د انسان ټول ژوند په هغې کښې راځي. دا درس د یوې ستري او لوړې څیړنې لپاره یو بنسټ دی. د خدای کلام یواځې په دې حقیقتونو او معلوماتو پورې محدود ندی چې د کاغذ په مخ لیکل کیږي، بلکه د خدای کلام ژوندی دی، په هر ایماندار کښې میشت کیږي او زمونږ روح او ځان تر خپلې اغیزې لاندې راولي.

۱۲ ځکه چې د خدای کلام له هغې دوه مخې او تیرې توري څخه ډیر ځواکمن او غوڅونکی دی، کومه چې ځان، روح، غړي او ماغزه سره بیلوي، او د زړه د افکارو او نیتونو جلا کوونکې دی.

عبرانیان ۴ باب: ۱۲ آیت

د دې کورس په هکله لومړنۍ لارښوونې

د هرې اونۍ لوست په پنځو برخو ویشل شویدی چې هغه باید په ترتیب سره ولوستل شي. دا فرق نه کوي چې د سپیڅلي کتاب څخه ستاسو د درک قدرت په کومه کچه دی ولی چې د دې کتاب یوه برخه چې (کولای شی په آسانۍ سره یې زده کړی) په نوم ده به ستاسو سره مرسته وکړي چې د لوست مفهوم او معنی په سمه توګه درک کړئ.

لومړې برخه : بیا کتنه

د یادونې وړ ده چې د لومړۍ اونۍ لوست څخه پرته د نورو ټولو اونیو په لوستونو کښې یوه ځانګړې برخه ځای شویده چې په هغې کښې مونږ د تیرې اونۍ په لوست باندی بیا کتنه کوو، دا برخه مونږ سره مرسته کوي ترڅو پوه شو چې د تیرې اونۍ لوست مو په کومه اندازه زده کړی دی.

دویمه برخه : زده کړه

په دې برخه کښې مونږ د سپیڅلي کتاب جزئیات زده کوو. چې په دې جزئیاتو کښې د سپیڅلي کتاب د کتابونو نومونه، پر بیلابیلو برخو د سپیڅلي کتاب ویشنه، د سپیڅلي کتاب د هرې برخې د سترو پیښو ذکر کول او د هغو سیمو د جغرافیایي موقعیت په هکله بنسټیز معلومات ترلاسه کوو چې په سپیڅلي کتاب کښې د هغوی یادونه شویده.

دریمه برخه : لوستل او دقیقه مطالعه

په دې برخه کښې د هرې اونۍ د لوست اړوند آیتونه لولو. د سپیڅلي کتاب څخه د هغې اونۍ د لوست د انتخاب شوي شخصیت په هکله مطالعه کوو چې په هغه لوست پورې تړاو لري. په سپیڅلي کتاب کښې د هغې اونۍ د لوست د اړوندو شخصیتونو د ژوند او د ژوندانه د سترو پیښو په هکله پیژندګلو او لنډ معلومات ترلاسه کوو. او د لوست په پای کښې به په دې هکله چې دې خلکو څرنګه له یو بل سره کله په ایمان کښې ژوند تیر کړ او کله هم د ناکامیو او ستونځو سره مخامخ شول خبرې او بحث وکړو.

څلورمه برخه : خبرې اترې او مباحثه

په دې برخه کښې تاسو په دې هکله چې د سپیڅلي کتاب شخصیتونه (د هر لوست په تړاو) څرنګه ستاسو په اوسني ژوند باندې اغیزه کوي، خبرې او مباحثه وکړو.

پنځمه برخه: د سپیڅلي کتاب د آیتونو حفظ کول (د اونۍ د لوست په تړاو)

د هرې اونۍ د لوست مهم آیتونه حفظ کړئ او په پوره تیارۍ سره دا آیتونه په راتلونکې اونۍ کښې تکرار کړئ.

د هرې اونۍ د لوستونو اړوند شخصیتونو او موضوعاتو ته کتنه

	پیدایښت	آدم
	د یهودو د قوم مشر	ابراهیم
	وتل	موسی
	برلاسې او بریا	یوشع
	منصفان (قاضیان)	جدعون
	پاچاهي	داؤد
	جلاوطني (تبعید)	دانیال
	بیرته راستنیدل	نحمیا
	چوپتیا	بیاکتنه
	انجیل	عیسی مسیح
	کلیسا	پطروس
	ماموریت او رسالت	پولس

لومړۍ اونۍ : پیدایښت

د بیا کتنې برخه:

څرنګه چې دا د دولسو درسي اونیو لومړنۍ اونۍ ده او مونږ د بیاکتنې لپاره کوم مطلب نلرو، نو راځئ چې نن ورځ د دې کتاب پر عنوانونو باندې خبرې وکړو او هغه یاد کړو.
د دې کتاب د دولسو درسونو عنوانونه په لاندیني جدول کښې لیکل شویدي:

	پیدایښت	آدم
	د یهودو د قوم مشر	ابراهیم
	وتل	موسی
	برلاسې او بریا	یوشع
	منصفان (قاضیان)	جدعون
	پاچاهي	داؤد
	جلا وطني (تبعید)	دانیال
	بیرته راستنیدل	نحمیا
	چوپتیا	بیاکتنه
	انجیل	عیسی مسیح
	کلیسا	پطروس
	ماموریت او رسالت	پولس

د زده کړې برخه:

پدې برخه کښې دا زده کوو چې سپیڅلی کتاب په څو کتابونو او برخو ویشل شوی دی. په لومړۍ ویشنه کښې سپیڅلی کتاب په دوو سترو برخو ویشل شویدی، چې لومړۍ برخه یې د زوړ تړون او دویمه برخه یې د نوي تړون په نامه یادیږي.

د زوړ تړون او نوي تړون د کتابونو شمیر:

- زوړ تړون ۳۹ کتابونه
- نوی تړون ۲۷ کتابونه
- د ټولو کتابونو ټولګه ٦٦ کتابونه

د سپیڅلي کتاب ډیره برخه په زوړ تړون کښې ده. زوړ تړون په دریو لویو برخو (تاریخ، شعر او نبوت) باندې ویشل شویدی، چې هره برخه یې پخپل وار سره په نورو کوچنیو برخو ویشل شویده او په هره برخه کښې یې د زوړ تړون د کتابونو نومونه لیکل شویدي. هیله ده چې د هرې برخې او د هغې د کتابونو نومونه چې په لاندیني جدول کښې لیکل شویدي یاد کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

خلقت

نیته : له میلاد تر مخه له ٤٠٠٠ تر ٢١٠٠ کلونو په منځ کښې

ستري پیښې : لومړی انسان چې پیدا شو آدم ؤ.

کیسه : خدای آدم او حوا په خپل انځور جوړ کړل. آدم او حوا د خدای د حکم د نه منلو په وجه له خپل مقام او ځای څخه راولویدل، د هغوی سرغړونه د دې سبب شوه ترڅو هغوی تر لعنت لاندې راشي، چې پایله یې مړینه او د خدای او انسان ترمنځ د بیلتون لامل وګرځیده.

د غټو ټکو لنډیز :

١. خدای انسان پیدا کړ.
٢. ګناه د انسان په واسطه نړۍ ته راغله.
٣. ټوله نړۍ په اوبو کښې ډوبه شوه خو نوح او د هغه کورنۍ وژغورل شول.
٤. د بابل د برج په پیښه کښې خدای خلکو ته بیلابیلې ژبې ورکړې او هغوی د ځمکې په مخ خواره واره شول.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

د زوړ تړون لومړنی شخصیت آدم دی چې مونږ به د هغه په هکله ولولو. لومړنی انسان چې د خدای لخوا پیدا شو آدم ؤ، خو مونږ باید د خدای د ذات په هکله د آدم د پیدا کیدو او همدارنګه د هغو سترو پیښو څخه چې د هغه په ژواندانه کښې ترسره شویدي، زده کړو. لومړې د پیدایښت له کتاب څخه لاندیني آیتونه چې د آدم په هکله دي ولولئ.

د پیدایښت د کتاب ١ – ٣ بابونه ولولئ.

آدم (انسان)

١. پس منظر (شالید) (پیدایښت ١ باب : ٢٦ – ٣١ آیتونه، او ٢ باب : ٧ آیت)

خدای لومړنی انسان یعنې آدم په خپل شکل جوړ کړ، پدې معنی چې انسان د معنوي او اخلاقي پلوه د خدای په شان جوړ شوی ؤ. انسان په ټولو مخلوقاتو باندې د واکمنۍ او له خدای سره د نږدې اړیکو لرلو په موخه پیدا کړایشو. په پیل کښې آدم بې ګناه ؤ خو وروسته یې ګناه وکړه.

٢. ستري پیښې

- آدم د خدای په واسطه خلق (جوړ) شو. پیدایښت ٢ باب : ٧ آیت
- آدم باید پر خلقت واکمني او د هغې پاملرنه کړی وای. پیدایښت ٢ باب: ١٥-٢٠ آیتونه
- خدای د آدم لپاره حوا جوړه کړه. پیدایښت ٢ باب : ٢١ – ٢٣ آیتونه
- آدم او حوا ګناه وکړه او د عدن له باغ څخه بهر وشړل شول. پیدایښت ٣ باب : ٢٤ آیت

۳. کله چې آدم خپل ایمان ثابت کړ

- آدم د عدن په باغ کښې کار کاوه او خدای ته وفادار ؤ. پیدایښت ۲ باب:۱۵–۲۰ آیتونه

۴. ماتې او تیروتنې

- آدم له خدای څخه سرغړونه وکړه. پیدایښت ۳ باب : ۶ – ۷ آیتونه

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د کتاب لدې برخې څخه یې زده کړو:

- د خدای له حکم څخه د آدم د سرغړونې پایله د خدای او انسان تر مینځ بیلتون ؤ.
- آدم د خپلې ګناه څخه توبه وکړه او په خدای باندې یې توکل وکړ ترڅو هغه وبښي.
- کوم کار چې خدای آدم ته سپارلی ؤ په وفاداری سره یې ترسره کاوه.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. آدم د اطاعت پر ځای سرغړونه وکړه، چې د هغه کار پر مونږ ټولو باندې بده اغیزه پرېښوده. آیا زمونږ ټاکنه هم پر مونږ او نورو باندې اغیزه اچوي؟
۲. که مونږ د خدای د کلام اطاعت و نه کړو، مونږ ته به څه پېښ شي؟
۳. خدای د آدم سره نیغ په نیغه خبرې وکړې. نن ورځ خدای زمونږ سره څرنګه خبرې کوي؟
۴. آیا زمونږ په ورځني او ټولنیز ژوندانه کښې هغه کارونه شته چې مونږ د خدای په اطاعت سره هغه ترسره کړو؟
۵. آیا خدای آدم وبښلو او هغه ته یې برکت ورکړ؟ نن خدای څه ډول مونږ ببښي او برکت راکوي؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د پیدایښت د کتاب ۱۲ تر ۱۵ باب پورې ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د لومړۍ اونۍ د لوست په تړاو آیت :

مونږ ټول مړه کیږو ځکه چې د ګناهګار آدم له نسل څخه یو، ځکه هر چیرته چې ګناه وي مرګ هم شته. خو ټول هغه خلک چې د مسیح پورې تړاو لري له مړینې وروسته به بیرته راژوندي شي.
د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب : ۲۲ آیت

دویمه اونۍ : د یهودو د قوم مشر

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه:

۱. د دې کتاب د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ، د لومړنۍ اونۍ د لوست شخصیت د هغه له عنوان سره د دې جدول په لومړۍ خانه کښې ولیکئ.

ابراهیم		
موسی		
یوشع		
جدعون		
داؤد		
دانیال		
نحمیا		
بیاکتنه		
عیسی مسیح		
پطروس		
پولس		

۲. په سپیڅلي کتاب کښې څو کتابونه موجود دي؟ څو کتابونه په زوړ تړون او څو نور کتابونه یې په نوي تړون کښې دي؟
۳. د زوړ تړون د دریو برخو نومونه واخلئ.
۴. د آدم ژوند تر څیړنې لاندې ونیسئ.

د زده کړې برخه

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

د یهودو د قوم مشران

نیټه : له میلاد ترمخه له ۲۰۰۰ تر ۱۸۰۰ کلونو په منځ کښې

ستري پیښې : د پیدایښت کتاب د یهودو د کورنۍ د ډیرو مشرانو د ژوندانه لکه د ابراهیم، اسحاق، یعقوب او د هغه د زامنو په هکله دی. د کتاب پدې برخه کښې به مونږ د یهودو د کورنۍ د مشرانو په یواځیني خدای باندې د ایمان، کمزوریو، ناکامیو او له هغوی سره د خدای د وفادارۍ او وعدو په هکله زده کړو.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. ابراهیم د عبرانیانو او ټولو ایماندارنو پلار دی.
۲. اسحاق د دوو زامنو (یعقوب او عیسو) پلار.
۳. یعقوب د اسرائیلیانو پلار.
٤. یوسف د یو مشر په صفت په مصر کښې.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

دویم شخصیت چې مونږ د هغه په هکله په دې کتاب کښې لولو، ابراهیم دی. ابراهیم په خدای باندې د ایمان لرلو او د هغه پر وعدو باندې د باور لرلو په وجه د ایمانداراتو د پلار په لقب نومول شوی ؤ. ابراهیم د خپل ایمان په واسطه ریښتینی وشمیرل شو. او کله چې د هغه ایمان تر آزموینې لاندې راغی، هغه پر خدای اعتماد او اطاعت وکړ.

د پیدایښت د کتاب ۱۲، ۲۱ او ۲۲ بابونه ولولئ.

ابراهیم

۱. شالید (پس منظر)

ابراهیم (ابرام) لومړی په حور کښې ژوند کاوه او وروسته په حران کښې میشت شو، د هغه ځای خلکو ریښتینی خدای نه پیژانده او د سپوږمۍ د خدای عبادت یې کاوه. خدای د ابراهیم څخه وغوښتل ترڅو هغه ځای پریږدي او د کنعان مځکې ته ولاړ شي. هغه هم له خپلې میرمنې سارا، وراره لوط او د هغوی کورنیو سره وطن او خپله هوساینه پریښوده او د کنعان لورې ته ولاړل.

۲. له ابراهیم سره د خدای وعده

- د یوې مځکې وعده. پیدایښت ۱۲ باب : ۷ آیت
- د یو لوی ملت وعده. (چې د هغه د نسل پواسطه به د ټولې دنیا خلک برکت ومومي.) پیدایښت ۱۵ باب : ۱ ــ ۱۲ آیتونه

۳. ستري پېښې

- د ابرام (ابراهیم) څخه د خدای بلنه. پیدایښت ۱۲ باب : ۱- ۲۰ آیتونه
- د ابرام (ابراهیم) سره د خدای وعده. پیدایښت ۱۲ باب : ۷ آیت
- د ابرام (ابراهیم) د هڅې پواسطه د لوط ژغورل. پیدایښت ۱۴ باب : ۱ – ۲۴ آیتونه
- د ابرام (ابراهیم) سره د خدای دویمه وعده. پیدایښت ۱۵ باب : ۱- ۱۲ آیتونه
- د اسماعیل زوکړه. پیدایښت ۱۶ باب : ۱ – ۱۶ آیتونه
- د سدوم او عموري ورانیدل. پیدایښت ۱۸ – ۱۹ بابونه
- د اسحاق زوکړه. پیدایښت ۲۱ باب : ۱ – ۳۴ آیتونه
- د قربانۍ د هدیې په توګه د اسحاق وړاندې کول. پیدایښت ۲۲ باب : ۱- ۲۴ آیتونه
- د ابراهیم مړینه. پیدایښت ۲۵ باب : ۱ – ۱۱ آیتونه

۴. کله چې ابراهیم خپل ایمان ثابت کړ

- هغه د خدای بلنې ته چې حران پریږدي، مثبت ځواب ورکړ.
  پیدایښت ۱۲ باب : ۱ آیت
- هغه د خدای په وعده چې هغه ته به یو زوی، ځمکه او نسل ورکوي باور وکړ.
  پیدایښت ۱۵ باب : ۴ – ۸ آیتونه
- هغه د اسحاق د قربانولو په هکله د خدای د حکم اطاعت وکړ.
  پیدایښت ۲۲ باب : ۱ - ۱۴ آیتونه
- هغه د خپل زوی (اسحاق) واده د خدای د غوښتنې سره سم وکړ.
  پیدایښت ۲۴ باب : ۷ آیت

۵. ماتې او تیروتنې

- ابراهیم پدې باندې باور و نه کړ چې خدای به له هغه څخه پاملرنه وکړي او مصر ته ولاړ. پیدایښت ۱۲ باب : ۱۰ آیت
- هغه د مصر پاچا او ابیملک ته دوکه ورکړه او ویې ویل چې سارا د هغه میرمن نده.
  پیدایښت ۱۲ او ۲۰ بابونه
- هغه د خدای د غوښتنې پر خلاف له هاجرې سره یو ځای او د اسماعیل پلار شو.
  پیدایښت ۱۶ باب

۶. مهم مثالونه او درسونه چې باید د کتاب لدې برخې څخه یې زده کړو:

- زغم او حوصله
- د خدای په وعدو اعتماد او باور
- اطاعت
- مونږ باید د خدای د بلنې څخه د اطاعت او فرمانبرداری په خاطر، د خپل کور او وطن پریښیدو ته چمتو اوسو او هغه لوري ته ولاړ شو چې خدای مونږ ته لارښوونه کوي.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د ابراهیم د ژوندانه په هکله یو له بل سره خبرې وکړئ.
۲. ولې ابراهیم عادل وګڼل شو؟
۳. خدای پاک ابراهیم ته وویل چې خپل کور او کورنۍ پریږدي او د خپل خدای پیروي وکړي، آیا د هغه لپاره دا کار آسانه ؤ؟
۴. که خدای ستاسو څخه وغواړي چې خپل ټول شیان پریږدئ، نو آیا تاسو به دا کار وکړئ؟
۵. ایمان څه شی دی؟ آیا تاسو یو مثال راکولی شی، چې تاسو چیرې او څرنګه له خپل ایمان څخه کار اخیستی دی؟
۶. خدای ابراهیم ته برکت ورکړ؛ خدای څرنګه کولای شي چې تاسو ته هم برکت درکړي؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د وتلو د کتاب ۱ تر ۲۰ باب پورې ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د تیرې اونۍ د لوست اړوند آیت یو ځل بیا تکرار کړئ.
د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب : ۲۲ آیت

۲. د دویمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
هغه وخت ابرام (ابراهیم) پر خدای اعتماد وکړ او په همدې وجه خدای هغه رینښتینی وګاڼه. پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت

د تیرې اونۍ د لوست د بیاکتنې برخه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ پورې د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		موسی
		یوشع
		جدعون
		داؤد
		دانیال
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون د دریو برخو نومونه واخلئ.
۳. د تورات د پنځو کتابونو نومونه واخلئ.
۴. د ابراهیم د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.

د زده کړې برخه

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

وتل

نیټه : له میلاد څخه ۱۵۰۰ کلونه تر مخه

ستري پیښې : موسی بني اسرائیل د مصر د خلکو له غلامۍ څخه آزاد کړل. خدای د موسی په واسطه خپل حکمونه د اسرائیلو خلکو ته وسپارل، خدای د بني اسرائیل خلک د هغوی د سرغړونې په وجه مجازات کړل. خدای پاک د بني اسرائیلو خلکو ته هدایت وکړ چې د هغه لپاره له خیمې څخه یو عبادت ځای جوړ کړي او هغه د عبادت د خیمې (د تړون خیمې) پنوم ونوموي.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د موسې پخواني ژوند او د خدای لخوا د هغه بلنه.
۲. خدای د موسی او د ډیرو معجزو په ښکاره کولو سره د بني اسرائیلو خلک له مصر څخه بهر وویستل.
۳. خدای خپل حکمونه د بني اسرائیلو خلکو ته وبښل.
٤. د تړون خیمه جوړه شوه.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

دریم شخص چې مونږ د هغه په هکله لولو، موسی نبي دی. پدې برخه کښې به مونږ ووینو چې موسی د خدای په نزد یو مهم پیغمبر ؤ، خو د هغه اهمیت د هغه د سترو کارونو او هغو معجزو له امله نه ؤ کومې یې چې خلکو ته ښکاره کړیوې، او نه هم د هغه اهمیت په دې دلیل ؤ چې خدای ګوندې خپل حکمونه د هغه پوسیله د دنیا خلکو ته ورکړی ؤ، بلکه د خدای په نزد د هغه اهمیت په دې کښې ؤ چې موسی د خدای او د خپلو خلکو لپاره یو عاجز او متواضع خدمت کوونکی ؤ.

د وتلو د کتاب ۱ـ ۴، ۱۴ او ۲۰ بابونه ولولئ.

موسی (د اوبو څخه اخیستل شوی)

۱. شالید (پس منظر)

موسی د مصر په یوه عبراني کورنۍ کښې وزیږید چې پدغه وخت کښې د بني اسرائیلو خلک د یوه مصري پاچا غلامان او مریان ؤ. د موسې د زیږیدو په وخت کښې د مصر پاچا فرمان صادر کړی ؤ چې باید د عبرانیانو ټول زامن د پیداکیدو په وخت کښې ووژل شي. د موسی مور او پلار لدې امر څخه سرغړونه وکړه او د دریو میاشتو لپاره یې هغه د ځان سره پټ وساته، خو هغوی نه شو کولای چې هغه نور هم ځان سره پټ کړي نو هغوی موسی په یوه توکړۍ کښې کیښود او په سیند کښې یې لاهو کړ، هغه ؤ چې یوې مصرۍ د پاچا لور هغه د سیند په غاړه وموند او له ځان سره یې وساته او دهغه پالنه یې وکړه. موسی د هغوی په منځ کښې د یوه مصري شهزاده په شان لوی شو، خو هغه هیڅکله دا حقیقت هیر نه کړ چې هغه

یو عبراني یعني د اسرائیلو له ډلې څخه دی. موسې د خپل ژوندانه په دوران کښې یو شهزاده، شپون، نبي او همدا راز د بني اسرائیلو لارښود ؤ.

۲. ستري پیښې

- کله چې موسی یو مصري ساتونکی وواژه، سمدستي له مصر څخه وتښتید.
  د وتلو د کتاب ۲ باب : ۱۱ – ۱۵ آیتونه
- خدای موسی ته امر وکړ ترڅو د بني اسرائیلو قوم ته لارښوونه وکړي او هغوی د مصریانو له غلامۍ (مریي توب) څخه آزاد کړي. د وتلو د کتاب ۳ و ۴ بابونه
- موسی د خدای په امر بیرته مصر ته ولاړ، او خدای د هغه پوسیله په مصریانو باندې لس بلاګاني نازلې کړې. د وتلو د کتاب ۷ تر ۱۲ باب
- موسی د بني اسرائیلو خلک له مصر څخه بهر کړل او هغوی یې له سور سیند څخه تیر کړل (پورې ایستل). د وتلو د کتاب ۱۲ تر ۱٤ باب
- خدای موسی ته خپل لس ګوني حکمونه ورکړل، همدارنګه هغوی ته یې لارښوونه وکړه ترڅو د عبادتځای خیمه څرنګه جوړه کړي، قرباني ګاني په څه ډول پرځای کړي او د مذهبي مراسمو درناوي وکړي. د وتلو د کتاب۲۰ تر ۳۱ باب
- د بني اسرائیلو خلکو پر خدای باور و نه کړ او هغوی د دې سرغړوني په وجه د اوږدې مودې لپاره په دښت او بیابان کښې سرګردانه شول. د شمیرلو او تثنیې کتابونه
- موسی وعده شوې ځمکه له لیرې ویني، له هغې وروسته خدای هغه پناه کوي او څوک نه پوهیږي چې د هغه قبر چیرې دی. تثنیه ۳٤ باب

۳. کله چې موسې خپل ایمان ثابت کړ:

- هغه ونه غوښتل چې د شهزاده یا د فرعون د لور د زوی پنوم ونومول شي.
  عبرانیان ۱۱ باب: ۲۴ آیت
- هغه مصر پریښود، (ځکه چې هغه نه لیدونکی خدای د خپل ایمان په سترګو ولید).
  عبرانیان ۱۱ باب : ۲۷ آیت
- هغه په هر حال کښې پر خدای ایمان درلود، تر دې چې کله هغه له عجیبو غریبو او ناشونو شیانو سره مخامخ شو نو بیا یې هم ایمان درلود.
- هغه د بني اسرائیلو سرکښو خلکو ته له سور سیند څخه د تیریدو په وخت لارښوونه او مرسته وکړه.
  عبرانیان ۱۱ باب : ۲۹ آیت

۴. ماتې او تیروتنې

- هغه یو مصري سړی وواژه او د خدای د پلان څخه یې پیروي و نکړه.
  وتل ۲ باب : ۱۲ آیت
- هغه و نه غوښتل د خدای له لوري له خلکو سره خبرې وکړي.
  وتل ۴ باب : ۱۰ – ۱۷ آیتونه
- هغه د اوبو د بهیدو لپاره د ګټ (صخره) په سوری کولو سره، په حقیقت کښې د خدای له امر څخه سرغړونه وکړه. شمیرل ۲۰ باب: ۸ – ۱۳ آیتونه

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د کتاب لدې برخې څخه یې زده کړو:

- موسی د اسرائیلو د خلکو لپاره زړه سوی درلود. وتل ۳۲ باب : ۷ - ۱۴ آیتونه
- هغه پر دعا باندې عقیده لرونکی سړی او د زغم او عاجزۍ بیلګه ؤ.
- هغه د فرعون او اسرائیلیانو له مخالفت سره سره پر خدای ایمان درلود او د هغه اطاعت یې کاوه.
- موسې یو هوښیار لارښود، یو ښه شپون او د بني اسرائیلو یو ښه پاملرونکی ؤ. وتل ۳۲ باب

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د موسې د ژوندانه په هکله خبرې وکړئ.
۲. آیا له سیند څخه د موسی ژغورل او د فرعون په ماڼۍ کښې د هغه پالنه یوه تصادفي پیښه وه یا دا چې مخکې د خدای لخوا پلان شوې وه؟
۳. ولې او پر کوم دلیل خدای تاسو له خپلو ګناهونو څخه وژغورلاست او د خپل زوی یا لور په څیر یې منلې یاست؟
۴. موسی هڅه وکړه چې پخپل انساني قدرت سره د هغه وخت کړکیچنه اوضاع کنترول کړی، خو هغه د یوه مصري سړي په وژلو سره اوضاع نوره هم کړکیچنه کړه. آیا تاسو هم کله کله ځینې پیښې د خپل کنترول او ادارې لاندې نیسی؟ ښه! نو که کله مو دا کار کړی وي نو هیله ده ووایاست چې د هغې پایله څه وه ؟
۵. آیا ځان ټیټونه او تواضع د انسان د کمزورۍ نښه ده یا د هغه د ځواک او تکړه توب نښه؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د یوشع کتاب په بشپړه توګه ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظې آیتونو برخه

۱. د لومړۍ او دویمې اونۍ د درسونو اړوند آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ .
د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب : ۲۲ آیت او پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت

۲. د دریمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه
د ایمان په وجه وه چې کله موسی لوی شو نو ویې نه غوښتل ترڅو د فرعون په ماڼۍ کښې پاتې شي او د هغه لمسی وبلل شي، هغه دا غوره بلل چې د خدای د رنځیدلو خلکو سره ستونځې وزغمي نه چې د پاچاهۍ په ماڼۍ کښې څو ورځې د ګناه خوند واخلي.
عبرانیان ۱۱ باب : ۲۴ – ۲۵ آیتونه

څلورمه اونۍ : برلاسې او بریا

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		یوشع
		جدعون
		داؤد
		دانیال
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون د تاریخي کتابونو د دوو اصلي او عمده برخو نومونه واخلئ.
۳. د تورات د برخې د پنځو کتابونو نومونه واخلئ.
۴. د موسې نبي د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شوی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

برلاسې او بریا

نیټه : تقریباً ۱۴۵۰ کلونه له میلاد څخه ترمخه

ستري پیښې : وروسته له هغې چې موسی مړ شو، یوشع د بني اسرائیلو د خلکو لارښود وټاکل شو. هغه د خدای په لارښوونه د کنعان د ځمکو په نیولو پیل وکړ. کنعان هماغه ځمکه وه چې خدای له ابراهیم او د هغه له اولادې سره د هغې وعده کړیوه.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. یوشع سره د خدای وعده .
۲. له یو بل څخه د اوبو د بیلیدو معجزه او د اردن له سیند څخه کنعان ته تیریدل.
۳. د کنعان د نیونې لپاره لښکر ویستنه.
۴. د اسرائیلو د قبیلو تر منځ د ځمکې ویش.
۵. د بني اسرائیلو خلکو ته د یوشع وروستۍ خبرې او د هغه د مړینې څرنګوالې.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

څلورم شخصیت چې مونږ د هغه په هکله په دې کتاب کښې لولو یوشع دی، یوشع د قوي او ستر ایمان خاوند ؤ، خدای هغه د مشرۍ د قوي ځواکمنۍ او ظرفیت لرلو په وجه او دا چې هغه یو خادم صفته انسان ؤ د بني اسرائیلو د لارښود او مشر په توګه غوره کړ.

د یوشع د کتاب ۱ او ۲۴ بابونه ولولئ.

یوشع (یهوه خلاصون دی)

۱. پس منظر (شالید)

د موسی د ژوندانه د دورې د پای ته رسیدو وروسته خدای د بني اسرائیلو د خلکو د لارښوونې مسؤلیت (د هغوی د هدایت او وعده شوې ځمکې ته د هغوی د سوق کولو او لارښوونې لپاره) یوشع ته وسپاره. د بني اسرائیلو خلک د سترو پاچاهانو او د طاقت لرونکو لښکرو سره مخامخ شول چې د دوی په پرتله ډیر زورور او د شمیر له پلوه هم ډیر ؤ.

۲. ستري پیښې

- یوشع د بني اسرائیلو د خلکو څخه یو لښکر جوړوي او هغوی د جنګ لوري ته بیایي. وتل ۱۷ باب

- یوشع په هغه ځمکه کښې د دښمن د جنګي توان او د هغوی د جنګیالیو د شمیر د معلومولو لپاره موسی ته جاسوسي کوي. شمیرل ۱۳ – ۱٤ بابونه
- یوشع د موسی د ځای ناستی په صفت غوره شو. شمیرل ۲۷ باب
- یوشع د بني اسرائیلو د خلکو لارښوونه وکړه ترڅو د اردن له سیند څخه تیر شي. یوشع ٤ باب
- یوشع د اریحا پر ښار برید وکړ او هغه یې فتح کړ. یوشع ٦ باب
- یوشع بني اسرائیلو ته نصیحت وکړ ترڅو د خدای پیروي وکړي. یوشع ۲۳- ۲٤ بابونه

۳. کله چې یوشع خپل ایمان ثابت کړ:

- هغه په پوره ډاډ سره باور وکړ چې خدای به هغه ځمکه بني اسرائیلو ته ورکړي. شمیرل ۱۳ او ۱٤ بابونه، یوشع ۱ باب
- هغه د اریحا پر ښار چې د یوې کلکې کلا پواسطه احاطه شوی ؤ، برید وکړ. یوشع ٦ باب

۴. ماتې او تیروتنې

- هغه د جبعونیانو په هکله له خدای څخه سلا وا نه اخیسته. یوشع ۹ باب : ۱۴ آیت

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د یوشع د ژوندانه څخه یې زده کړو:

یوشع د موسی د لارښوونې منونکی ؤ او له هغه څخه یې پیروي کوله. هغه د خپل ایمان او د خدای د اطاعت پواسطه وکړای شو چې د خدای د قوم لارښود شي، مونږ د یوشع په وجود کښې دا غوره صفتونه وینو:

- تواضع (ځان ټیټونه)
- د خدای د غوښتنې سره سمه لارښوونه
- بردباری، زغم او حوصله
- د هغو کارونو په سرته رسولو باندې چې ناشوني ښکاریدل ایمان او باور لرل
- له خدای څخه اطاعت حتی په هغو کارونو کښې چې ناشوني ښکاریدل

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د یوشع د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. یوشع حتی هغه وخت چې د دنیا د زورورو او سترو پاچاهانو سره مخامخ شو بیایې هم پر خدای توکل وکړ. آیا ستاسو په ژوندانه کښې هم ځینې نه حل کیدونکې ستونځې شته چې تاسو د هغو د مقابلې لپاره اړتیا لری ترڅو پر خدای توکل وکړی؟
۳. کله چې د بني اسرائیلو ځینو خلکو له خدای څخه سرغړونه وکړه، هغوی ته څه ورپیښ شول؟ ولی د خدای له ټولو امرونو او حکمونو څخه اطاعت مهم دی؟
۴. ځینې هغه وعدې چې د یوشع د کتاب په لومړي باب کښې خدای له هغه سره کړې وې بیان کړئ. ستاسو په ژوندانه کښې د دغو وعدو کارول څنګه دي؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د منصفانو کتاب په بشپړه توګه ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د دویمې او دریمې اونۍ د درسونو اړوند آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ.
پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت او عبرانیان ۱۱ باب : ۲۴ – ۲۵ آیتونه

۲. د څلورمې اونۍ د لوست اړوند آیت

هو: قوي او زړور اوسه، ډار او ویره له ځانه لیرې کړه. په یاد ولره هر چیرته چې لاړ شې، زه چې ستا خدای یم، ستا سره به یم.

یوشع ۱ باب : ۹ آیت

پنځمه اونۍ : منصفان

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		جدعون
		داؤد
		دانیال
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون د تاریخي کتابونو د دوو اصلي او عمده برخو نومونه واخلئ.
۳. د تورات د برخې د پنځو کتابونو نومونه واخلئ.
۴. د یوشع د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

منصفان (قاضیان

نیټه : له میلاد تر مخه له ۱۴۰۰ تر ۱۰۰۰ کلونو په منځ کښې

سترې پېښې : د یوشع له مړینې وروسته اسرائیل د کنعان په خاوره کښې د یهودي منصفانو لخوا رهبري کیدل. هر ځلې چې د بني اسرائیلو خلکو د خدای له حکم څخه سرغړونه کړې او ګناه یې سرته رسولې د ګاوندیانو د بې دینه پاچاهانو لخوا تر حملې او تیرې لاندې راغلې دي. خدای هر ځل داسې منصفان را استول چې د بني اسرائیلو خلک هم له ګناه او هم د تیرې کوونکو له ظلم څخه وژغوري. په هغه دوران کښې دولسو منصفانو پر اسرائیلو واکمني وکړه چې د هغوی تر ټولو مشهور سامسون ؤ.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د یوشع له مړینې وروسته د بني اسرائیلو خلکو ګناه وکړه.
۲. پردیو قومونو پر هغوی حمله وکړه، خو منصفانو خلک وژغورل.
۳. د یو منصف په توګه د سامسون ناکامي.
۴. د اسرائیلو خلکو بیا هم له خدای څخه سرغړونه وکړه. دا رنګه چې هر هغه څه چې د دوی په نظر سم ښکاریدل، هغه یې ترسره کول.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

هغه پنځم کس چې په دې کتاب کښې مونږ د هغه په هکله لولو جدعون دی. خدای جدعون غوره کړ چې د بني اسرائیلو خلک له بت پرستۍ، بې دینه او پردي پاچاهانو څخه وژغوري.

د منصفانو د کتاب ۶ تر ۹ بابونه ولولئ.

جدعون (جنګیالی)

۱. شالید (پس منظر)

جدعُون د منسي له قبیلې څخه ؤ. هغه یو بزګر ؤ او په یوه بې نوم او نښانه کورنۍ کښې دنیا ته راغلی ؤ. جدعون ریښتیا هم یو متواضع او عاجزه سړی ؤ. خدای هغه غوره کړ ترڅو د بني اسرائیلو خلک د مدیانیانو له لاسه وژغوري، وروسته هغه یو ستر نظامي لارښود شو او مدیانیانو ته یې ماتې ورکړه. منصفان ٦ – ٨ بابونه

۲. سترې پېښې

- د خدای یوه فرښته له جدعون سره خبرې کوي او هغه ته وایي چې د مدیانیانو سره په جګړه کښې د بني اسرائیلو لارښوونه وکړي. منصفان ۶ باب : ۱۹ آیت
- جدعُون د یو درې سویز لښکر لارښوونه وکړه او مدیانیانو ته یې ماتې ورکړه. . منصفان ۷ باب

- جدعُون نه غوښتل چې د یهودو د پاچا په توګه ونومول شي. منصفان ۸ باب

۳. کله چې جدعون خپل ایمان ثابت کړ:

- هغه د خدای اطاعت وکړ او د خپل کلي ټول بتان یې مات کړل.
  منصفان ۶ باب : ۲۵ – ۳۲ آیتونه
- هغه د دښمن د لوی لښکر په وړاندې د خپل درې سویز لښکر لارښوونه په ډیره ښه توګه وکړه. منصفان ۷ باب
- هغه له پاچاه کیدو څخه ډډه وکړه ځکه ایمان یې درلود چې یواځې خدای پاچا دی. منصفان ۸ باب

۴. ماتې او تیروتنې

- هغه بیا بیا د خدای آزمایښت وکړ، او د خدای لخوا د نښو نښانو په لټه کښې ؤ.
  منصفان ۶ باب : ۱۷ آیت
- هغه د جنګي غنایمو څخه چې ترلاسه کړې یې وه، د سرو زرو یو ایفود (څلې) جوړ کړ چې وروسته خلکو د هغې عبادت او پرستش پیل کړ. منصفان ۸ باب : ۲۴– ۲۸ آیتونه

۵. هغه مهم مثالونه او درسونه چې باید د جدعون له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- خدای د بني اسرائیلو لپاره یو متواضع کس غوره کړ.
- جدعُون د ستونځو او بې اندازې ربړونو په وخت کښې بیا هم پر خدای ایمان درلود.
- څرنګه چې جدعون یو متواضع شخص ؤ، هغه وکړای شول چې د قدرت غوښتنې پر وسوسه باندې بریالی شي.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د جدعون د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. جدعون په خپلو خلکو کښې یوازینی کس ؤ چې د خدای خبرو ته یې غوږ ونیو او بتان یې مات کړل. ستاسو په اند آیا د هغه لپاره دا کار آسانه ؤ؟ که چیرې ستاسو په کورنۍ او ټولنه کښې ټول خلک ستاسو د عقیدې مخالف وي، آیا تاسو به بیا هم حاضر شی چې د خدای اطاعت وکړی؟
۳. ولی خدای پاک جدعون ته لارښوونه وکړه ترڅو له خپل کوچني لښکر سره د لویو دښمنانو په مقابل کښې وجنګیږي او هغوی ته ماتې ورکړي؟ آیا کله داسې پیښه شویده چې خدای ستاسو څخه غوښتی وي چې یو کار ترسره کړی، په داسې حال کښې چې تاسو د هغه وس یا د هغه د ترسره کولو لپاره په لاس کښې وسیله نلری؟
۴. آیا دا شونې ده چې تاسو د یوه متواضع لارښود په توګه واوسی؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د سموئیل لومړی او دویم کتاب په بشپړه توګه ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د دریمې او څلورمې اونۍ د درسونو اړوند آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ.
عبرانیان ۱۱ باب : ۲۴ – ۲۵ آیتونه او یوشع ۱ باب : ۹ آیت

۲. د پنځمې اونۍ د لوست اړوند آیت

خو جدعون ځواب ورکړ: نه زه ستاسو پاچا کیږم او نه هم زما زامن. ستاسو پاچا خدای دی!
منصفان ۸ باب : ۲۳ آیت

شپږمه اونۍ : پاچاهي

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		داؤد
		دانیال
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون د تاریخي کتابونو د دوو اصلي او عمده برخو نومونه واخلئ.
۳. د تاریخي کتابونو د برخې د ټولو اوه لسو کتابونو نومونه واخلئ.
۴. د جدعون د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

پادشاهي

نیټه : له میلاد تر مخه له ۱۰۵۰ تر ۶۰۰ کلونو په منځ کښې

ستري پیښې : شائول د بني اسرائیل لومړی پاچا شو. وروسته له هغه چې شائول د خدای له امر څخه سرغړونه وکړه، نو داؤد د خدای له لوري د پاچا په توګه غوره شو. له داؤد وروسته د هغه زوی سلیمان پاچاهی ته ورسید، د سلیمان له مړینې وروسته د هغه پاچاهي په دوو برخو یعنی یهودا او اسرائیل وویشل شوه. د دواړو پاچاهیو لارښوونه د ځانګړو پاچاهانو لخوا ترسره کیده چې ځینې یې ښه او ځینې یې هم بد خلک ؤ.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د اسرائیل لارښوونه د یوه پاچا لخوا ترسره کیده.
۲. په پای کښې داؤد یوه پاچاهي جوړه کړه چې سوله یې راوسته.
۳. سلیمان د خدای لپاره د اورشلیم عبادتځای جوړ کړ.
٤. د اسرائیلو پاچاهي په دوو برخو وویشل شوه او جنګ هم پیل شو.
۵. له خدای څخه د نافرمانۍ په وجه دواړه ملتونه له ناکامۍ سره مخ شول.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

شپږم شخصیت چې د هغه په هکله مونږ پدې کتاب کښې لولو داؤد دی. خدای داؤد د بني اسرائیلو د خلکو پاچا او د یو ستر نبي په توګه غوره او وټاکه. هغه د بني اسرائیلو ټولو دښمنانو ته ماتې ورکړه او په هغې ځمکې کښې یې سوله رامنځته کړه.

داؤد (د قبیلې محبوب یا سالار)

۱. شالید (پس منظر)

داؤد د یهودا له قبیلې څخه ؤ، پلار یې یسي نومیده. یسي د عوبید زوی او عوبید د بوعز زوی ؤ. داؤد یو ساز غږونکی، شاعر، شپون، عسکر او پاچا ؤ. هغه د شائول د پاچاهی په وخت کښې چې د بني اسرائیلو لومړی پاچا ؤ ژوند کاوه. داؤد له میلاد تر مخه له ۱۰۳۰ او ۹۶۰ کلونو په مینځ کښې ژوند کاوه.

۲. ستري پیښې

- داؤد د خدای لخوا غوره او مسح کیږي. د سموئیل ۱ کتاب ۱۶ باب: ۱- ۳ آیتونه
- داؤد جلیات ته ماتې ورکوي. د سموئیل ۱ کتاب ۱۷ باب : ۱ – ۵۸ آیتونه
- داؤد د شائول پاچا لخوا نه منل کیږي، ځکه چې شائول هغه د خپل ځای ناستي په توګه نه مني. د سموئیل ۱ کتاب ۱۹ تر ۲٦ بابونه

- داؤد د بني اسرائیلو پاچا کیږي. د سموئیل۲ کتاب ۱ باب : ۱ – ۲۷ آیتونه
- داؤد پاچا زنا او قتل کوي. د سموئیل ۲ کتاب ۱۱ تر ۱۳ بابونه
- داؤد دخپل زوی ابشالوم لخوا له تخت څخه لویږي. د سموئیل ۲ کتاب ۱۴- ۱۸ بابونه

۳. کله چې داؤد خپل ایمان ثابت کړ:

- کله چې هغه جلیات ته ماتې ورکړه. د سموئیل ۱ کتاب ۱۷ باب
- کله چې داؤد د ښه فرصت لرلو سره سره بیا هم خپل دښمن یعنې شائول و نه واژه. د سموئیل ۱ کتاب ۲٤ او ۲٦ بابونه
- کله چې هغه له خپلې ګناه څخه توبه وکړه. د سموئیل ۲ کتاب ۱۲ باب: ۱۳ آیت او ۵۱ زبور

۴. ماتې او تیروتنې

- داؤد څو څو ځلې واده وکړ او د هغه د میرمنو او مینځو شمیر ډیر زیات ؤ.
- هغه قتل او زنا وکړه. د سموئیل ۲ کتاب ۱۱ باب
- هغه پخپله کورنۍ کښې یو کمزورۍ مشر ؤ. د سموئیل ۲ کتاب: ۱۳ – ۱٤ بابونه
- هغه نیغ په نیغه د خدای له حکم څخه سرغړونه وکړه، او د خلکو سرشمیرنه یې وکړه. د سموئیل ۲ کتاب ۲٤ باب

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د داؤد له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- داؤد هغه سړی ؤ چې پخپل ژوند کښې یې د خدای د ارادې پلټنه کوله.
- هغه پدې کلک ایمان درلود چې پر ستونځو او کړاوونو به بریالی شي.
- هغه یو ستر او قوي لاربښود ؤ او د خدای قوم یې د یوه پیاوړي ملت په توګه یو موټی کړ.
- سره لدې چې داؤد یو ستر شخصیت او د خدای ښه منونکی ؤ، خو بیا هم له هغه څخه بې شمیره تیروتنې ترسره شوې، په هر حال بیا هم هغه د خدای په وړاندې د خپل چلند په واسطه خپل لویوالې او ستر شخصیت ښکاره کړ یعنی د بریا په وخت کښې هغه د خدای نوم ته جلال ورکړ او د ناکامۍ په وخت کښې هغه خدای ته رجوع وکړه او له ګناه څخه یې توبه وکړه.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د داؤد د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. ولې خدای داؤد غوره کړ، په داسې حال کښې چې هغه تر خپلو ټولو ورونو کشر ؤ؟
۳. داؤد په بدن کښې یو ډیر غښتلي سړي ته چې د خدای او د هغه د قوم دښمن ؤ، ماتې ورکړه. زمونږ په ژوند کښې هم ستری او غټې ستونځې شته، آیا ستاسو په ژوندانه کښې

هم کومه ستونځه شته چې ډیره ستره او غټه وي؟ ستاسو د ژوندانه ستري او غټې ستونځې کومې دي چې غواړئ پر هغو باندې بریالي شی؟
۴. مونږ ولیدل چې داؤد یو بشپړ انسان نه ؤ خو بیا هم خدای له هغه څخه کار واخیست؟
۵. یو ښه لارښود او مشر د کومو خصوصیاتو لرونکی وي؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د دانیال کتاب ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د څلورمې او پنځمې اونۍ د درسونو اړوند آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ.
یوشع ۱ باب : ۹ آیت او منصفان ۸ باب : ۲۳ آیت

۲. د شپږمې اونۍ د لوست اړوند آیت

اې خدایه، اې زما پټن ځای او ژغورونکیه! زما خبرې او فکرونه دې ستا د خوښې وړ وي.
زبور ۱۹ باب : ۱۴ آیت

اومه اونۍ : جلاوطني (تبعید)

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		دانیال
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون کتابونه په درې لویو برخو ویشل شویدي، د هغې د دوو برخو نومونه واخلئ.
۳. د تاریخي کتابونو د اوه لسو کتابونو او د شعري برخې د کتابونو د پنځو کتابونو نومونه واخلئ؟.
۴. د داؤد د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ او وواياست چې تاسو د هغه له ژوندانه څخه څه زده کړل؟

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

جلا وطني (تبعید)

نیټه : له میلاد تر مخه له ۶۰۰ او ۵۰۰ کلونو په منځ کښې

سترې پېښې : کله چې آشوریانو د سویلي اسرائیلو حکومت ته ماتې ورکړه او د هغې اوسیدنکي یې په اسارت ونیول، نو له هغې سل کلونه وروسته د بابل پاچا د اورشلیم ښار فتح کړ او د هغوی ګڼ شمیر یې بابل ته تبعید کړل. د تبعید شویو په مینځ کښې دانیال او ګڼ شمیر نومور او استعداد لرونکي ځوانان او د یهودیې لارښوونکو ګډون درلود. د اورشلیم خلکو په پاڅون لاس پورې کړ خو هغوی وځپل شول او د اورشلیم ښار هم وران شو. او د خلکو د همدې پاڅون په وجه ؤ چې په پای کښې یې د اورشلیم پاتې خلک هم تبعید ته اړ شول.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. دانیال او د هغه ملګرو د خدای د حکمونو اطاعت وکړ، نه د پاچا د حکمونو.
۲. دانیال د بابل د پاچا د خوب تعبیر وکړ.
۳. د دانیال ملګري اور ته واچول شول خو د خدای فرښتې هغوی وژغورل.
٤. دانیال د زمریو په سوري یا کوهي کښې واچول شو، خو د خدای فرښتې هغه وژغوره.
۵. د دانیال نبي نبوتونه.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

هغه اووم شخصیت چې مونږ د هغه په هکله لولو، دانیال نبي دی، سره لدې چې دانیال نبي خپل ژوند له سپیڅلي مځکې بهر تیر کړ خو بیا هم هغه یو ستر نبي ؤ، او خدای څو ځلې د لویو پاچاهانو په دربار کښې له هغه څخه کار واخیست.

دانیال

۱. شالید (پس منظر)

دانیال او د هغه ملګري له میلاد تر مخه په ۵۳۵ کال کښې په اسارت ونیول شول او د یهودا څخه بابل ته یوړل شول. که څه هم هغوی د بابل د حکومت اسیران ؤ، خو هغوی هلته د ډیرو ښو تعلیمونو څخه برخمن شول او د بابل او فارس په حکومتونو کښې سترو مقامونو ته ورسیدل. دانیال د نورو یهودیانو سره اړ ؤ چې د نامتو بت پرستانو په ځمکه کښې ژوند وکړي.

۲. **سترې پېښې**

- دانیال د نبوکد نصر لخوا اسیر او بابل ته یوړل شو. دانیال ۱ باب :۱- ۷ آیتونه
- دانیال د نبوکد نصر پاچا د خوب تعبیر وکړ. دانیال ۲ باب : ۱ – ۴۹ آیتونه
- د دانیال ملګري په اور کښې واچول شول. دانیال ۳ باب: ۱ – ۳۰ آیتونه

- دانیال د دیوال په مخ د لیک تعبیر وکړ. دانیال ۵ باب : ۱ – ۳۱ آیتونه
- دانیال د زمریو په کوهي یا سوري کښې واچول شو. دانیال ۶ باب : ۱ – ۲۸ آیتونه
- دانیال نبوت وکړ. دانیال ۸ باب : ۱ – ۲۷ آیتونه

۳. کله چې دانیال خپل ایمان ثابت کړ:

- دانیال او د هغه ملګرو د خدای له حکمونو څخه د پیروۍ په برخه کښې له چا سره روغه نه کوله. دانیال ۱ باب : ۸ – ۶ آیتونه
- دانیال د هغو قوانینو له پیروۍ څخه کوم چې د خدای د حکمونو مخالف ؤ، ځان ګوښه کړ. دانیال ۶ باب : ۱ – ۲۸ آیتونه

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د دانیال له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- په یوه خدای نه پیژندونکي ټولنه کښې د دانیال ژوندون له خدای سره د وفادارۍ لپاره یو ښه بیلګه او مثال دی.
- د دانیال ژوندون راښیي چې یو خدای پیژندونکی کس په یوه خدای نه پیژندونکي ټولنه کښې د یوه لائیک (خدای نه پیژندونکي) حکومت تر چتر لاندی ژوند او کار وکړي، خو بیا هم خدای او د هغه حکمونو ته وفادار پاتې شي.
- د دانیال ژوند له دعا او ایمان څخه د ډک ژوندون لرلو لپاره یوه ښه بیلګه ده.
- دانیال د خپلې وفادارۍ په وجه له خدای څخه برکت ترلاسه کړ.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د دانیال د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. دانیال د خپلې کورنۍ، کور او هیواد څخه بیل شو او یو داسې هیواد ته یوړل شو چې د هغه هیواد کلتور او مذهب بیل او پردی ؤ. ستاسو په اند د دې موضوع په هکله د دانیال احساس څه ؤ؟
۳. سره لدې چې دانیال یوه پردي هیواد ته په اسارت او تبعید وړل شوی ؤ او د سختو شرایطو لاندې یې ژوند کاوه، خو بیایې هم د خدای اطاعت کاوه. آیا تاسو هم کله په داسې یو حالت او وضعیت کښې راغلي یاست چې هر څه د هغه څه پر خلاف وي چې تاسو یقین لرئ چې صحیح او سم دی، او تاسو مجبور شوي یاست چې یوه سمه او پر ځای پریکړه وکړئ؟ که ستاسو ځواب هو وي، نو تشریح یې کړئ چې کیسه څرنګه وه.
۴. دانیال په هر حالت کښې د خدای اطاعت کاوه حتي که دا کار د هغه په مرګ هم تمام شویوای؟ آیا که تاسو د همدې ډول حالت سره مخامخ شی، دا کار به سر ته ورسوئ؟
۵. څه فکر کوی چې ولې خدای له دانیال څخه کار واخیست؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د نحمیا کتاب ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

۱. د پنځمې او شپږمې اونۍ د درسونو اړوند آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ.
منصفان ۸ باب : ۲۳ آیت ا و زبور ۱۹ باب : ۱۴ آیت

۲. د اومې اونۍ د لوست اړوند آیت

د بابل پاچا دانیال ته وویل: ستا خدای چې تل د هغه عبادت کوې، تا دې خلاص کړي، وروسته یې هغه د زمریانو کوهي ته وغورځاوه. دانیال ۶ باب : ۱۶ آیت

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		
		نحمیا
		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. د زوړ تړون کتابونه په درې برخو ویشل شویدي، هیله ده چې د درې واړو برخو نومونه واخلئ.
۳. د تاریخي کتابونو د برخې د اوه لسو کتابونو او د شعري کتابونو د برخې د پنځو کتابونو نومونه واخلئ.
۴. د دانیال د ژوندانه په هکله یو له بل سره مرکه وکړئ او ووایاست چې تاسو د هغه له ژوندانه څخه څه پند واخست؟

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.
د زوړ تړون وروستۍ برخه د نبوتي کتابونو په نامه یادیږي، دا کتابونه په دوو فرعي برخو ویشل شویدي چې د سترو نبوتونو او وړو نبوتونو پنوم یادیږي، هیله ده چې د دې دوو فرعي برخو د کتابونو نومونه زده کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

د تاریخ د برخي کتابونه د هغوی د پیښیدو د وخت او زماني په ترتیب سره په لاندیني جدول کښې ذکر شویدي. لاندینی جدول ستاسو سره مرسته کوي ترڅو پوه شی چې دا کتابونه څرنګه یو له بل سره اړیکه لري او په کومو کلونو کښې لیکل شویدي.

پیدایښت	وتل	شمیرل	یوشع	منصفان	۱ سموئیل	۲ سموئیل	۱ پاچاهان	۲ پاچاهان	عزرا	نحمیا
۲۴۰۰ ـ ۲۰۰۰	۱۵۰۰	۱۴۵۰	۱۴۰۰ ـ ۱۰۰۰	۱۰۵۰ ـ ۹۵۰	۹۳۰ ـ ۶۰۰	۴۷۵ ـ ۴۵۰ م.م.				

لاویان		تثنیه		روت		لومړی تواریخ		دویم تواریخ		استر

بیرته راستنیدل

نیټه : له میلاد څخه تقریبا ۵۰۰ کلونه ترمخه

ستري پیښې : وروسته له هغې چې یهودیانو له ۱۴۰ کلونو څخه ډیر په تبعید کښې تیر کړل، په پای کښې یې اجازه ترلاسه کړه ترڅو بیرته خپل هیواد ته راستانه شي. عزرا اجازه ترلاسه کړه چې د اورشلیم ښار ته راستون شي او هلته د اورشلیم د عبادتځای بیاجوړونه وکړي، همدا ډول نحمیا هم اجازه پیدا کړه ترڅو اورشلیم ته راستون شي ترڅو د اورشلیم د ښار د چارچاپیره دیوالونو بیاجوړونه وکړي.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. عزرا اورشلیم ته راستون شو ترڅو د اورشلیم د عبادتځای په جوړولو کښې مرسته وکړي.
۲. استر چې خپله یهودۍ وه، د فارس د امپراطورۍ ملکه شوه او د یهودیانو ځان یې د ټولنیزو وژنو څخه وژغوره.
۳. نحمیا اورشلیم ته ځي ترڅو د هغه ښار د دیوالونو بیاجوړونه وکړي.
۴. د عبادتځای د جوړولو او د ښار د دیوالونو کار بشپړ شو.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

اتم کس چې مونږ پدې کتاب کښې د هغه په هکله لولو نحمیا نبي دی. خدای د نحمیا څخه کار واخیست ترڅو په ډیرو بدو حالاتو کښې د بني اسرائیلو د قوم لارښوونه وکړي او هغوی ته زړورتوب او همت ورکړي.

نحمیا نبي

۱. پس منظر (شالید)

د نحمیا نبي د کتاب پیښې له میلاد تر مخه تقریبا په ۴۳۰ کال کښې پیښې شویدي. یعنی د فارس د امپراطورۍ په وخت کښې کله چې یهودیان د یهودیې مځکې ته له تبعید څخه د بیرته

راستنیدو په حال کښې ؤ. د اورشلیم ښار چې له میلاد تر مخه په ۵۳۶ کال کښې ویجاړ شوی ؤ تردې وخته هم د بشپړې کنډوالې په څیر پاتې ؤ. کله چې نحمیا د فارس د پاچا چې اردشیر نومید په چوپړ کښې د ساقي په صفت کار کاوه، هغه واوریدل چې د اورشلیم دیوالونه تر دې وخته هماغسې ویجاړ پاتې ؤ نو هغه له پاچا څخه اجازه وغوښته ترڅو ولاړ شي او د اورشلیم د ښار د چارچاپیر دیوالونو په بیا رغولو کښې مرسته وکړي.

۲. ستري پیښې

- بیارغونه : نحمیا نبي اورشلیم ته راستون شو او د بیارغونې کار یې پیل کړ.
  نحمیا ۳ او ۷ بابونه
- روحاني رغونې : د تورات د کتاب د حکمونو لوستل او د خدای لور ته بیرته راستنیدل.
  نحمیا ۸ – ۱۰ بابونه
- په ښار کښې بیا رغونه : د دیوالونو وقف او تبرک کول او د استوګنې لپاره د ښار چمتو کول. نحمیا ۱۱ – ۱۳ بابونه

۳. کله چې نحمیا خپل ایمان ثابت کړ :

- هغه د وعده شوې ځمکې او اورشلیم ته د بني اسرائیلو د قوم د بیا راستنیدو په هکله د خدای پر ژمنو ایمان او باور درلود.
- هغه د ډیرو مخالفتونو سره سره بیا هم د اورشلیم ښار د بیا رغونې لپاره ډیر زغم او استقامت درلود.
- هغه خلکو ته د توبې او له خدای سره د هغوی د روحاني اړیکو د بیا نوي کیدو لپاره رهبري او لارښوونه وکړه.

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د نحمیا له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- نحمیا د خدای غوښتنه او اراده د دعا پواسطه وغوښته، مونږ هم د هغو کارونو په هکله چې خدای غواړي ترسره یې کړو یواځې نه یو او باید تل د خدای او د هغه کلام لخوا د لارښوونې او هدایت په لټه کښې واوسو.

- سره لدې چې نحمیا د ښار د دیوالونو د بیا رغونې په کار کښې د ډیرو مخالفتونو سره مخامخ شو، خو هغه بیا هم له ځانه زغم، حوصله او مقاومت وښود. د خدای کار او خدمت تل آسانه ندی، کله کله کیدای شي مونږ هم د نحمیا په شان د خدای د کار او خدمت په ترڅ کښې د خلکو او شیطان له مخالفت سره مخامخ شو خو یواځې د ایمان او عمل په مرسته مونږ کولای شو کوم کارونه چې خدای مونږ ته راسپارلي دي بشپړ کړو.

- نحمیا د خلکو د سمبالولو او د کارونو د سرته رسولو او د خدای لور ته د هغوی د لارښوونې په برخه کښې د یوه ښه لارښود په شان عمل وکړ. خدای پیژندونکی لارښود هغه دی چې هم خلک د یوه ځانګړي کار لپاره سازماندهي کوي او هم هغوی د خدای د روحاني حقیقت لور ته لارښوونه او هدایت کوي.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د نحميا د ژوندانه په هکله يو له بل سره بحث وکړئ.
۲. نحميا خپل آرام ژوند او ښه دنده پريښوده ترڅو اورشليم ته ولاړ شي او د خدای لپاره له خطر څخه ډک يو کار سرته ورسوي، هغه ولې دا کار سرته ورساوه؟ آيا اورشليم ته تګ هغه ته يو آسانه کار ؤ؟
۳. آيا کله چې مونږ وغواړو د خدای اطاعت وکړو او د هغه له ارادې سره سم عمل وکړو، هر څه به په ښه ډول او آسانۍ سره په مخ ولاړ شي، يا دا چې له ستونځو او خطرونو سره هم مخامخ کيږو؟ آيا د نحميا لپاره دا کار آسانه ؤ؟
۴. په کوم دليل نحميا ته ښه لاربښود ويلی شو؟ که خدای ستاسو څخه وغواړي آيا تاسو کولای شی چې د لاربښوونې مسؤليت په غاړه واخلی؟
۵. مونږ د خدای د غوښتنو د ترسره کولو لپاره د ټولنيز خدمت په هکله د نحميا له ژوندانه څخه څه زده کوو؟
۶. د نحميا کتاب د ۹ باب ۴ آيت ولولئ، مونږ د دې آيت څخه د دعا په هکه څه زده کوو؟

هيله ده ټول تير شوي درسونه چې په دې کتاب کښې مو لوستي دي يو ځل بيا ولولی.

په دې لوست پورې تړلې د حفظې آيتونو برخه

۱. د شپږمې او اومې اونۍ د درسونو اړوند آيتونه يو ځل بيا تکرار کړئ.
زبور ۱۹ باب : ۱۴ آيت او دانيال ۶ باب : ۱۶ آيت

۲. د اتمې اونۍ د لوست اړوند آيت

نه ښايي چې غمجن واوسی، بلکه بايد جشن ولمانځئ او خوشحاله اوسئ، وخورئ، وڅکئ، او له خپل خوراک څخه فقيرانو ته هم ورکړئ. د خدای دا خوښي به ستاسو د قوت پانګه وي! نحميا ۸ باب : ۱۰ آيت

نهمه اونۍ : چوپتیا

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		بیاکتنه
		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. تر دې وخته مونږ اته درسونه ولوستل، چې د هر لوست موضوع د سپیڅلي کتاب د یوه یا څو کتابونو څخه اخیستل شویده، هیله ده چې د دې اتو درسونو اړوند کتابونو نومونه واخلئ.
۳. د زوړ تړون د ۳۹ کتابونو نومونه واخلئ.

د زده کړې برخه :

تاسو د تیرې اونۍ په لوست کښې زده کړل چې زوړ تړون څرنګه په بیلابیلو برخو ویشل شویدی، هیله ده چې دا ویشنه یو ځل بیا هم تکرار کړئ.
د زوړ تړون وروستۍ برخه د نبوتي کتابونو په نامه یادیږي، دا کتابونه په دوو فرعي برخو ویشل شویدي چې د سترو نبوتونو او وړو نبوتونو پنوم یادیږي، هیله ده چې د دې دوو فرعي برخو د کتابونو نومونه زده کړئ.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

د تاریخ د برخې کتابونه د هغوی د پیښیدو د وخت او زمانې په ترتیب سره په لاندیني جدول کښې ذکر شویدي. لاندینی جدول ستاسو سره مرسته کوي ترڅو پوه شی چې دا کتابونه څرنګه یو له بل سره اړیکې لري او په کومو کلونو کښې لیکل شویدي.

	لاویان	تثنیه	روت	لومړی تواریخ	دویم تواریخ	استر
پیدایښت وتل	شمیرل	یوشع	منصفان ۱ سموئیل ۲ سموئیل	۱ پاچایان	۲ پاچایان	عزرا نحمیا
۲۴۰۰ – ۲۰۰۰	۱۵۰۰	۱۴۵۰	۱۴۰۰ – ۱۰۰۰	۱۰۵۰ – ۹۵۰	۹۳۰ – ۶۰۰	۴۷۵ – ۴۵۰ م.م.

چوپتیا

نیټه : له میلاد څخه تقریبا ۴۰۰ کلونه ترمخه

ستري پیښې : له تبعید څخه د یهودیانو د بیرته راستنیدو وروسته هغوی په هغه ځمکه کښې چې خدای ورسره وعده کړې وه میشت شول. وروسته له هغې چې د اورشلیم د عبادتځای بیارغونه وشوه یهودیانو بیرته د خپلو مذهبي مراسمو او خدای ته د قربانیو په وړاندې کولو سره چې په تورات کښې د موسی لخوا هغوی ته ښوول شوي ؤ مخه وکړه خو بیا هم د اسرائیلو هیواد په دوو ځانګړو دورو کښې د هغه وخت د دوو ځواکمنو امپراطوریو له تسلط لاندې راغی.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. یهودیان له تبعید وروسته خپل هیواد ته راستانه شول.
۲. یهودیانو بیا مذهبي مراسمو او مذهبي اخترونو ته مخه وکړه.
۳. اسرائیل د یونان د امپراطورۍ لخوا فتح شو، عبادتځای ته یې بې حرمتي وکړه او جګړه پیل شوه.
۴. د روم امپراطوري ځواک ته ورسیده او پر اسرائیلو باندې مسلطه شوه.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

په سپیڅلي کتاب کښې ګڼ شمیر د نبوتونو کتابونه شته چې د حجم له پلوه ځیني ډیر او ځیني لږ دي. که څه هم دا کتابونه د یهودیانو لپاره لیکل شویدي خو زمونږ لپاره هم د استفادې وړ دي. دا کتابونه د بشر لپاره د خدای د وعدو او پاملرنې او همدارنګه د هغو لپاره چې پر خدای او د هغه پر وفادارۍ باندې باور او توکل نلري د اخطار او تهدید په هکله دي.
مونږ په لاندیني جدول کښې د انبیاؤ د کتابونو د زماني ترتیب په هکله لولو دا چې زمونږ سره مرسته کوي ترڅو پوه شوو چې دا کتابونه په کومو کلونو کښې لیکل شویدي. خو دا

حتمي نده چې تاسو دا کتابونه د زماني ترتيب له پلوه لکه څرنګه چې په لانديني جدول کښې ذکر شويدي ولولئ. دا جدول يواځې ستاسو سره مرسته کوي ترڅو د دې کتابونو د ليکلو د نيټې په هکله معلومات ترلاسه کړی.

د شمالي پادشاهی د تبعيد پيل (اسرائيل) له ميلاد تر مخه له ۸۰۰ تر ۷۰۰ کلونو په منځ کښې

يوئيل	۸۴۰ ـ ۸۳۰ له ميلاد تر مخه
يونس	۷۹۰ ـ ۷۷۰ له ميلاد تر مخه
عاموس	۷۸۰ ـ ۷۴۰ له ميلاد تر مخه
هوشع	۷۶۰ ـ ۷۲۰ له ميلاد تر مخه
اشعيا	۷۴۵ ـ ۶۹۵ له ميلاد تر مخه
ميکا	۷۴۰ ـ ۷۰۰ له ميلاد تر مخه

د بني اسرائيلو د خلکو او د جنوبي پادشاهی د تبعيد پيل (يهودا) ۷۳٤ ـ ۵۸۰ له ميلاد ترمخه

صفنيا	۶۳۹ ـ ۶۰۸ له ميلاد تر مخه
ناحوم	۶۳۰ ـ ۶۱۰ له ميلاد تر مخه
ارميا	۶۲۶ ـ ۵۸۶ له ميلاد تر مخه
حبقوق	۶۰۶ ـ ۵۸۶ له ميلاد تر مخه
عوبيديا	۵۸۶ له ميلاد تر مخه

د يهودا اسارت (جنوبي پاچاهي) له ميلاد ترمخه له ٦۰٦ تر ۵۳٦ کلونو په منځ کښې

دانيال	۶۰۶ ـ ۵۳۴ له ميلاد تر مخه
حزقيال	۵۹۲ ـ ۵۷۰ له ميلاد تر مخه

د اسارت څخه د يهودا بيرته راستنيدل (شمالي پاچاهي) ۵۳٦ ـ ٤۰۰ له ميلاد ترمخه

حجي	۵۲۰ ـ ۵۱۶ له ميلاد تر مخه
زکريا	۵۲۰ ـ ۵۱۶ له ميلاد تر مخه
ملاکي	۴۵۰ ـ ۴۰۰ له ميلاد تر مخه

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. آيا تاسو کولای شی چې د سپيڅلي کتاب د ټولو هغو شخصيتونو نومونه واخلی کوم چې تر دې وخته تاسو د هغوی په هکله لوستلي دي؟
۲. آيا تاسو کولای شی چې د هغو کتابونو نومونه واخلی چې په هغوی کښې د دې شخصيتونو يادونه شويده؟
۳. آيا کولای شی چې په لنډ ډول د هغوی ژوند تشريح کړی؟
۴. له هغو مثالونو څخه يو ذکر کړئ چې هغوی پکښې ناکامه شوي وي او پخپل ايمان کښې يې کمزوري ښکاره کړي وي.
۵. له هغو مثالونو څخه يو بيان کړئ چې په هغه کښې دوی پر خدای باندې خپل توکل او ايمان ښکاره کړي وي.

۶. د سپیڅلي کتاب دوه تنه (شخصیتونه) غوره کړئ او پدې هکله چې خدای له هغوی سره څرنګه مرسته وکړه، توضیح ورکړئ.
۷. د سپیڅلي کتاب د ټولو شخصیتونو له ډلې څخه چې د هغوی په هکله مو ولوستل، کوم شخصیت ستاسو د ډیرې خوښې وړ ګرځیدلی دی؟
۸. کوم درسونه چې تاسو د دې خلکو د ژوندانه څخه زده کړیدي څرنګه یې پخپل ژوندانه کښې عملي کولای شی؟
۹. د دې خلکو څخه د کوم یوه ژوند لیک ستاسو په ژوندانه کښې ډیره اغیزه کولی شي؟

د راتلونکې اونۍ لپاره د متی انجیل ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظي آیتونو برخه

تاسو تر دې وخته اته آیتونه چې لاندې ذکر شویدي یاد کړي دي هیله ده دا آیتونه تکرار او ځان پرې مطمئن کړئ چې هغه ټول مو ښه زده کړیدي.

د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب: ۲۲ آیت
پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت
عبرانیان ۱۱ باب : ۲۴ ــ ۲۵ آیتونه
یوشع ۱ باب : ۹ آیت
منصفان ۸ باب : ۲۳ آیت
زبور ۱۹ باب : ۱۴ آیت
دانیال ۱۳ باب : ۱۶ آیت
نحمیا ۸ باب : ۱۰ آیت

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		عیسی مسیح
		پطروس
		پولس

۲. په نوي تړون کښې څو کتابونه موجود دي؟
۳. د نوي تړون د لومړۍ برخې (چې د انجیلونو په نامه یادیږي) د څلورو کتابونو نومونه واخلئ؟

د زده کړې برخه :

اوس مونږ د سپیڅلي کتاب دویمه برخه لولو، د سپیڅلي کتاب دویمه برخه د نوي تړون پنوم یادیږي. نوی تړون په څلورو برخو ویشل شوی دی: لومړۍ برخه انجیلونه نومیږي (چې په هغې کښې د مسیح هغه ویناوې او کړنې بیانیږي کله چې په دنیا کښې ؤ)، د نوي تړون دویمه برخه د کلیسا د تاریخچې پنامه ده (چې د رسولانو د اعمالو او د کلیسا د پیل څرنګوالی بیانوي)، دریمه برخه یې د رسولانو د رسالو پنوم ده (هغه لیکونه چې کلیسا ته لیکل شوي او استول شویدي او د نوي تړون وروستۍ برخه د مکاشفې پنوم ده (چې د آخرې زمانې پیښې بیانوي). هیله ده چې د نوي تړون د کتابونو د څلورو واړو برخو نومونه ولولئ او حفظ یې کړئ.

د نوي تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

د نوي تړون څلور برخې			
انجیلونه	**د رسولان اعمال**	**د رسولانو رسالې**	**مکاشفه**
متی مرقس لوقا یوحنا	د رسولانو د اعمالو کتاب	د رومیانو رساله د قرنتیانو لومړۍ او دویمه رساله د غلاطیانو رساله د افسسیانو رساله د فلیپیانو رساله د کولسیانو رساله د تسالونیکیانو لومړۍ او دویمه رسالې د تیموتاؤس لومړۍ او دویمه رساله د تیطوس رساله د فلیمون رساله د عبرانیانو رساله د یعقوب رساله د پطروس لومړۍ او دویمه رساله د یوحنا لومړۍ، دویمه او دریمه رساله د یهودا رساله	مکاشفه

انجیلونه

نیټه : د ۳ او ۳۰ میلادي کلونو په منځ کښې

ستري پیښې : د هر انجیل کیسه د عیسی مسیح د ژوندانه د یوې ځانګړې برخې څخه پیل کیږي. د متي او لوقا انجیلونه د عیسی مسیح د زیږیدو په برخه کښې معلومات راکوي، په داسې حال کښې چې د مرقس او یوحنا انجیلونه د عیسی مسیح د خدمت او ماموریت له دورې څخه پیل کیږي، په هر حال څلور واړه انجیلونه د عیسی مسیح ستر کارونه او تعلیمونه بیانوي او هغه ټول د عیسی مسیح د زوکړې، کړاوونو او د صلیب پر مخ د هغه د مړینې او بیا راپورته کیدو په هکله خبرې کوي.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د عیسی مسیح زوکړه او د ماشومتوب دوران.
۲. د عیسی مسیح د ماموریت پیل.
۳. د عیسی مسیح ژوند، ښوونې او معجزې.
٤. په نړۍ کښې د عیسی مسیح د ماموریت پای، مړینه او بیا راژوندي کیدل

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

اوس مونږ د سپیڅلي کتاب د نوي تړون په برخه کښې یو. او د ځینو هغو شخصیتونو د ژوندانه په هکله لولو چې د دې برخې په کتابونو کښې یاد شویدي. په انجیلونو او دنوي تړون په ټولو کتابونو کښې چې تر ټولو لوړ شخصیت ذکر شویدی هغه عیسی مسیح دی، که څه هم په زوړ تړون کښې هم د هغه په هکله ډیرې وړاندوینې شوي او دا حقیقت هم بیان شوی دی چې هغه د کائناتو له پیدا کیدو څخه وړاندې په هر وخت او زمانه کښې او په بیلابیلو تاریخونو کښې شتون درلود، ځکه چې هغه خدای دی خو مونږ په نوي تړون کښې نیغ په نیغه د عیسی مسیح په هکله زده کوو.

عیسی مسیح

۱. شالید (پس منظر)

د وعده شوی (موعود) مسیح د راتلو په هکله د زوړ تړون په ټولو برخو کښې ډیرې وړاندوینې شویدي. دنیا ته د عیسی مسیح راتګ هم لکه د لومړني انسان (آدم) د پیدایښت په شان یوه معجزه وه، ځکه چې مسیح د روح القدس پوسیله د یوې پیغلې انجلۍ چې مریم نومیده په رحم کښې ځای ونیو. مونږ د عیسی مسیح د ماشومتوب په هکله ډیر لږ معلومات په لاس کښې لرو خو دومره پوهیږو چې وروسته له هغې چې عیسی مسیح د یحیی پوسیله د تعمید غسل واخیست، د خلکو په مینځ کښې یې خپل ماموریت پیل کړ. عیسی مسیح د معجزو په ښکاره کولو، تعلیم ورکولو او همدارنګه د شاګردانو د تربیه کولو له لیارې چې د خپل ماموریت د سرته رسولو لپاره یې ترسره کول خپل لوی قدرت څرګند کړ. پدې نړۍ کښې د

عیسی مسیح وروستی خدمت صلیب ته د هغه تک ؤ، کوم ځای چې یې د ټولې نړۍ د خلکو د گناهونو لپاره خپل ځان قربان کړ خو وروسته له درې ورځو هغه له قبر څخه راپاڅید او مرگ، گناه او شیطان ته یې ماتې ورکړه.

۲. سترې پیښې

- د عیسی مسیح د زوکړې اعلان، لوقا ۱ باب : ۲۶ – ۵۶ آیتونه
- د عیسی مسیح زوکړه، لوقا فصل ۲ باب : ۱ – ۲۰ آیتونه
- عیسی مسیح د تعمید غسل اخلي، لوقا ۳ باب : ۱ – ۲۲ آیتونه
- هغه وسوسې چې عیسی مسیح له هغو سره مخامخ شو، لوقا ۴ باب : ۱ – ۱۳ آیتونه
- د عیسی مسیح ژوند او خدمت.
- د عیسی مسیح نیول کیدل، لوقا ۲۲ باب : ۴۷ – ۵۳ آیتونه
- د عیسی مسیح شکنجه کیدل، لوقا ۲۲ باب : ۵۴ آیت تر ۲۳ باب : ۵۵ آیت
- د عیسی مسیح مصلوب کیدل ، لوقا ۲۳ باب : ۲۶ – ۴۹ آیتونه
- د عیسی مسیح دفن کیدل، لوقا ۲۳ باب : ۵۰ – ۵۵ آیتونه
- د عیسی مسیح بیرته راپورته کیدل، لوقا ۲۴ باب : ۱ – ۱۲ آیتونه
- آسمان ته د عیسی مسیح پورته کیدل (صعود)، لوقا ۲۴ باب : ۵۰ – ۵۳ آیتونه

۳. د موعود (وعده شوې) مسیح د راتگ په هکله د خدای د کلام وړاندوینې

- د عیسی مسیح د زوکړې په هکله، اشعیا ۷ باب : ۱۴ آیت
- د عیسی مسیح د زوکړې د ځای په هکله، میکا ۵ باب : ۲ آیت
- نړۍ ته د عیسی مسیح د راتلو د دلیل او موخې په هکله، اشعیا ۴۲ باب : ۶ آیت
- د عیسی مسیح د مړینې په هکله، اشعیا ۵۳ باب : ۱ – ۹ آیتونه، زبور ۲۲ باب : ۷ – ۱۸ آیتونه

۴. د مسیح د شخصیت په هکله زمونږ پوهه

- عیسی مسیح په بشپړه توگه سپیڅلی ؤ، لوقا ۱ باب : ۳۵ آیت
- عیسی مسیح ریښتینې او واقعي مینه لرله، افسسیان ۳ باب : ۱۹ آیت
- هغه ریښتیا هم متواضع ؤ، فلیمون ۲ باب : ۵ – ۸ آیتونه
- عیسی مسیح حلیم او نرم مزاجه شخصیت ؤ، متی ۱۱ باب : ۲۹ آیت
- عیسی مسیح په خپل ژوندانه کښې تل دعا کوله، متی ۱۴ باب : ۲۳ آیت
- هغه د پلار خدای لپاره ستر کارونه ترسره کړل، یوحنا ۵ باب : ۱۷ آیت

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د نحمیا له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- که څه هم عیسی مسیح له روحاني پلوه خدای ؤ خو هغه د انسان په جسم کښې څرگند شو، یعني په انساني بدن کښې یې ژوند کاوه. هغه د ټولو هغو خلکو لپاره چې پر هغه ایمان لري یوه ښه بیلگه او مثال په ځای پریښود. فیلپیان ۲ باب : ۱ – ۵ آیتونه

- مونږ د عیسی مسیح د بیا راتلو تر وخته پورې چې هغه نیغ په نیغه وینو او په بشپړه توګه د هغه په شان کیږو، باید هڅه وکړو ترڅو د خپل ورځني ژوند په کړنو کښې نور هم د هغه په شان شو. د یوحنا لومړۍ رساله ۳ باب : ۲ آیت
- عیسی مسیح د خدای د روح پر قدرت باندې ډاډمن ؤ، یعنې هماغه روح چې هغه مونږ ته هم رابښلی دی ترڅو د پلار خدای اراده او کړنې ترسره کړو. یوحنا ۱۶ باب : ۷ – ۱۵ آیتونه، افسیان ۱ باب : ۱۳ آیت
- هغه په ټولو حالاتو کښې د خدای اطاعت کاوه، حتې د مړینې په وخت کښې هم. هغه زمونږ لپاره یو بشپړ مثال دی چې له هغه څخه سرمشق واخلو او د هغه پیروي وکړو. فیلپیان ۲ باب : ۸ آیت

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د ګنهګارانو په وړاندې د عیسی مسیح ذهنیت او چلند څنګه ؤ؟ زمونږ راکړه ورکړه او چلند د هغو ګناهکارانو په وړاندې چې مونږ یې پیژنو باید څنګه اوسي؟
۲. عیسی مسیح د ښځو او ماشومانو سره څنګه چلند درلود؟ آیا مونږ هم باید د هغوی په وړاندې هماغه رویه او چلند ولرو؟ تاسو یې تشریح کړئ چې څرنګه؟
۳. د پلار خدای سره د عیسی مسیح اړیکه څنګه وه؟ زمونږ اړیکه باید د خدای سره څنګه اوسي؟
۴. د شیطان او ناولې ارواؤ په وړاندې د عیسی مسیح برخورد او اقدام څرنګه ؤ؟ په اوسني زمانه او پخپل ژوند کښې مونږ څرنګه کولای شو د عیسی مسیح د مثال په کارولو سره دا کار ترسره کړو؟
۵. عیسی مسیح مونږ ته ډیر تعلیمونه راکړي. یو له هغو کارونو څخه چې هغه تاسو ته ښودلی دی تر څو تاسو پخپل ژوندانه کښې هغه ترسره کړی، کوم یو دی؟

هیله ده چې د راتلونکې اونۍ د لوست لپاره د رسولانو د اعمالو ۱ تر ۱۲ بابونه ولولئ.

په دې لوست پورې تړلې د حفظې آیتونو برخه

۱. د لسمې اونۍ د لوست اړوند آیت

په ما کښې پاتې شئ او پریږدئ زه هم په تاسو کښې پاتې شم، ځکه چې کله یو ښاخ له ونې څخه بیل شي نور نشي کولای چې میوه ورکړي، تاسو هم زما څخه بیل نشی کولای چې بارداره شی او ګټور اوسی.
یوحنا ۱۵ باب : ۴ آیت

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		پطروس
		پولس

۲. د نوي تړون د څلورو برخو نومونه واخلئ؟
۳. د نوي تړون د لومړۍ برخې (چې د انجیلونو په نامه یادیږي) د څلورو کتابونو نومونه واخلئ؟

د زده کړې برخه :

مهرباني وکړئ د نوي تړون د څلورو برخو او د هغې د کتابونو نومونه زده کړئ.

د نوي تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

د نوي تړون څلور برخې			
انجیلونه	د رسولانو اعمال	د رسولانو رسالې	مکاشفه
متی مرقس لوقا یوحنا	د رسولانو د اعمالو کتاب	د رومیانو رساله د قرنتیانو لومړۍ او دویمه رساله د غلاطیانو رساله د افسسیانو رساله د فلیپیانو رساله د کولسیانو رساله د تسالونیکیانو لومړۍ او دویمه رساله د تیموتاؤس لومړۍ او دویمه رساله د تیطوس رساله د فلیمون رساله د عبرانیانو رساله د یعقوب رساله د پطروس لومړۍ او دویمه رساله د یوحنا لومړۍ، دویمه او دریمه رساله د یهودا رساله	مکاشفه

کلیسا

نیټه : د ۳۰ تر ۵۰ میلادي کلونو پورې

ستري پیښې : آسمان ته د مسیح د پورته تللو او ټولو ایماندارانو ته د روح القدس له نزول وروسته کلیسا رامنځته شوه. د کلیسا د پیل تاریخچه د مسیح د رسولانو او د لومړنۍ کلیسا د ایماندارانو کړنې او اعمال د رسولانو د اعمالو په کتاب کښې لیکل شویدي.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د روح القدس پوسیله د کلیسا زیږیدل او منځ ته راتلل.
۲. په اورشلیم کښې د کلیسا وده.
۳. هغه ستونځې او ربړونې چې لومړنۍ کلیسا د هغو سره مخامخ شوه.
٤. د ایماندارانو خواره واره کیدل او په سامریه او د نړۍ په نورو برخو کښې د مسیح د پیغام خپرول.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

د لسمې اونۍ په لوست کښې مونږ د سپیڅلي کتاب تر ټولو ستر او مهم شخصیت یعنې عیسی مسیح په هکله ولوستل. پدې اونۍ کښې مونږ د عیسی مسیح د شاګردانو څخه د یوه په هکله چې پطروس نومید لولو. خدای د کلیسا په پیل کښې له هغه څخه کار واخیست او وروسته هغه د کلیسا د سترو لارښوونکو له ډلې څخه شو.

پطروس (ګټ)

۱. پس منظر (شالید)

پطروس رسول کوم لوړ تحصیلات نه درلودل. هغه یو ساده کب نیوونکی ؤ، هغه د جلیل په سیند کښې کبان نیول (متی ۴ باب : ۱۸ آیت). اندریاس د پطروس رسول ورور په پیل کښې د تعمید ورکوونکی یحیی شاګرد ؤ خو هغه وروسته د عیسی مسیح د لومړنیو شاګردانو له جملې څخه شو، یوحنا ۱ باب : ۳۵ – ۴۰ آیتونه (کله چې د لومړي ځل لپاره اندریاس له عیسی مسیح سره مخامخ شو نو په منډه منډه د خپل ورور پطروس لور ته ولاړ ترڅو هغه ته د عیسی مسیح په هکله ووایي. کله چې عیسی مسیح پطروس چې په هغه وخت کښې شمعون نومید ولید نو د هغه نوم یې په کیفا یعنې پطروس یا ګټ (صخره) باندې بدل کړ). یوحنا ۱ باب : ۴۱ – ۴۲ آیتونه. له هغه وخته ښکاري چې پطروس رسول او د هغه ورور چې کب نیوونکي ؤ خپلې دندې پریښودې او د عیسی مسیح شاګردان شول، وروسته پطروس رسول د کلیسا لارښود شو او هغه د کلیسا په نوم دوه رسالې ولیکلې چې د لومړي او دویم پطروس پنوم یادیږي. مسیحیان داسې باور او عقیده لري چې پطروس رسول د مسیحي توب په وجه پر صلیب وخیژول شو (ووژل شو).

۲. ستري پیښې

- عیسی مسیح پطروس راوغوښت تر څو د هغه پیروي وکړي. متی ۴ باب : ۱۸ آیت، یوحنا ۱ باب : ۴۲ آیت

- پطروس رسول عیسی د مسیح په توګه وپیژاند. متی ۱۶ باب: ۱۳ – ۲۰ آیتونه
- پطروس رسول د عیسی مسیح د هیئت (شکل) د بدلیدو په وخت کښې حضور درلود.
متی ۱۷ باب : ۱ – ۲ آیتونه
- پطروس رسول د عیسی مسیح د محاکمې په جریان کښې حضور درلود.
متی ۲۶ باب : ۶۹ – ۷۵ آیتونه
- عیسی مسیح پطروس ته یوه وظیفه وسپارله. یوحنا ۲۱ باب : ۱۵ – ۱۹ آیتونه
- د پنطیکاست په ورځ د پطروس موعظه. د رسولانو اعمال ۲ باب
- پطروس رسول په عبادتځای کښې شَل سړي ته شفا ورکړه.
د رسولانو اعمال ۳ باب : ۱ – ۱۰ آیتونه
- پطروس رسول غیریهودیانو ته موعظه وکړه. د رسولانو اعمال ۱۰ او ۱۱ بابونه

۳. کله چې پطروس خپل ایمان ثابت کړ:

- پطروس رسول د سیند د اوبو پر سر تګ وکړ. متی ۱۴ باب : ۲۹ آیت
- پطروس رسول عیسی د مسیح په صفت وپیژاند. متی ۱۶ باب : ۱۳ – ۲۰ آیتونه
- پطروس رسول د پنطیکاست په ورځ موعظه وکړه. د رسولانو اعمال ۲ باب
- پطروس یو سړي ته شفا ورکړه. د رسولانو اعمال ۳ باب : ۱ – ۱۰ آیتونه
- پطروس رسول د ډیرو مخالفتونو سره سره چې د مذهبي او دولتي چارواکو لخوا ورسره کیدل د انجیل موعظه وکړه. د رسولانو اعمال ۴ باب : ۱ – ۲۲ آیتونه

۴. ماتې او تیروتنې

- پطروس رسول شک وکړ او په اوبو کښې ډوب شو. متی ۱۴ باب : ۳۰ آیت
- پطروس رسول دنیا ته د مسیح د راتګ موخه په سمه توګه درک نه کړ.
متی ۱۶ باب : ۲۱ – ۲۳ آیتونه
- پطروس رسول انکار وکړ او ویې ویل چې عیسی نه پیژني.
متی ۲۶ باب : ۶۹ – ۷۵ آیتونه
- پطروس رسول د غیریهودیانو څخه په ملاتړ کښې بې پروایي وکړه.
غلاطیان ۲ باب : ۱۱ – ۱۴ آیتونه

۵. مهم مثالونه او درسونه چې باید د پطروس له ژوندانه څخه یې زده کړو:

- پطروس رسول هغه شاګرد ؤ چې ټول کارونه یې په عمل کښې ترسره کول خو اکثره د هغه افکار یا اعمال غلط او ناسم ؤ.
- کله چې د پطروس پام د خدای لور ته ؤ نو هغه به بریالي کیده خو کله به چې د هغه پام د خدای لور ته نه ؤ نو هغه ناکامیده.
- کله چې پطروس رسول له روح القدس څخه ډک شو هغه په کلیسا کښې په یو ستر لارښود بدل شو.

- سره لدې چې پطروس رسول ډېرې اشتباه ګانې درلودې خو هغه هر ځل د خدای لور ته راتلو او د خدای د فیض په مرسته خپل لومړني حالت ته راګرځید.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د پطروس رسول د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. ښايي چې پطروس د عیسی مسیح د ټولو شاګردانو په مینځ کښې تر ټولو زړه ور ؤ، آیا دا ډول زړه ورتیا ښه ده یا بده؟ آیا ضروري ده چې تاسو هم پخپل ایمان کښې زړور او میړني واوسئ؟
۳. پطروس رسول ډېر اشتباهات لرل خو له هغې سره سره بیا هم هغه خپل رسالت پرې نښود. آیا تاسو هم د یو مسیحي په صفت په کوم کار یا کوم څه کښې اشتباه کړې ده؟ مونږ هم د پطروس په شان په ډېرو کارونو کښې تیروتنه او اشتباه کړیده، مونږ باید د دې مسئلې سره څرنګه چلند وکړو؟
۴. سره لدې چې پطروس رسول درې ځلې له عیسی مسیح څخه انکار وکړ، ولې مالک عیسی مسیح بیا هم له هغه څخه کار واخیست؟
۵. خدای څرنګه ستاسو څخه په کلیسا کښې کار اخلي؟

په دې لوست پورې تړلې د حفظې آیتونو برخه

۱. د لسمې اونۍ د درس اړوند آیت یو ځل بیا تکرار کړئ. **یوحنا ۱۵ باب : ۴ آیت**

۲. د یوولسمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه

نو د خدای د ځواکمن لاس لاندې عاجزي وکړئ ترڅو تاسو په ټاکلي وخت کښې سرلوړي شی. او خپلې ټولې اندیښنې هغه ته پرېږدئ، ځکه چې هغه ستاسو پاملرنه کوي.
د پطروس لومړۍ رساله ۵ باب : ۶ – ۷ آیتونه

د تیرې اونۍ د لوست بیاکتنه :

۱. د دولسو اونیو د درسونو عنوانونه او د هرې اونۍ د اړوندو شخصیتونو نومونه په لاندیني جدول کښې ولیکئ.

		پولس

۲. د نوي تړون د څلورو برخو نومونه واخلئ؟
۳. د نوي تړون د ټولو کتابونو نومونه واخلئ؟

د زده کړې برخه :

دا د کورس وروستۍ اونۍ ده، تر دې وخته باید تاسو د زوړ تړون او نوي تړون د ټولو برخو نومونه او همدارنګه د سپیڅلي کتاب د ټولو کتابونو نومونه زده کړي او حفظ کړي وي.

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

د نوي تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

د نوي تړون څلور برخې			
انجیلونه	د رسولانو اعمال	د رسولانو رسالې	مکاشفه
متی مرقس لوقا یوحنا	د رسولانو د اعمالو کتاب	د رومیانو رساله د قرنتیانو لومړۍ او دویمه رساله د غلاطیانو رساله د افسسیانو رساله د فلیپیانو رساله د کولسیانو رساله د تسالونیکیانو لومړۍ او دویمه رساله د تیموتاؤس لومړۍ او دویمه رساله د تیطوس رساله د فلیمون رساله د عبرانیانو رساله د یعقوب رساله د پطروس لومړۍ او دویمه رساله د یوحنا لومړۍ، دویمه او دریمه رساله د یهودا رساله	مکاشفه

مآموریت او رسالت

نیټه : د ۴۵ تر ۶۵ میلادي کلونو تر منځ

ستري پیښې : کله چې په اورشلیم کښې کلیسا تر ستونځو، ربړونو او ځورولو لاندې راغله نو مسیحیانو ګاونډیو ښارونو ته کډه وکړه. د انطاکیې کلیسا د مسیحیت ستر مبلغ او مبشر پولس رسول د انجیل د بشارت لپاره ولیږد. پولس رسول او د هغه ګڼ شمیر ملګرو د کوچنۍ آسیا او اروپا یوې برخې ته سفر وکړ او هلته یې په موعظه کولو، تعلیم ورکولو، او د کلیساګانو په جوړولو پیل وکړ.

د غټو ټکو لنډیز :

۱. د پولس رسول مسیحي کیدل.
۲. پولس او برناباس د کلیسا له لوري د انجیل د بشارت لپاره واستول شول.
۳. پولس رسول د خپل رسالت په دوره کښې درې بشارتي سفرونه لرل چې د هغې په ترڅ کښې یې موعظه کوله او نوي کلیساګانې یې جوړولې.
٤. پولس رسول زنداني شو.

د لوستلو او دقیقې مطالعې برخه

پولس رسول د ډیرو ټکړه خلکو له ډلې څخه یو تن ؤ چې خدای له هغه څخه په نوي تړون کښې کار واخیست. د رسولانو د اعمالو په کتاب کښې مونږ د هغه په هکله ډیر موضوعات لولو. خدای پولس رسول ته د هغه د رسالو په لیکلو کښې الهام ورکاوه ترڅو د هغه پوسیله کلیسا ته د مسیحیت تعلیم روښانه کړي. پولس رسول په نوي تړون کښې د هغه رسالت د غځولو یوه ښه بیلګه ده کوم چې خدای تر ده وړاندې خپلو پیروانو لکه ابراهیم او موسی ته ورسپارلی ؤ. پولس رسول هم د هغوی په شان د خدای لخوا راوبلل شو ترڅو خپل کور پریږدي او هغه ځای ته چې خدای هغه لیږه ولاړ شي.

پولس رسول

۱. شالید (پس منظر)

پولس رسول چې په پیل کښې یې نوم شائول ؤ د طرسوس په ښار کښې زیږیدلی ؤ هغه د بنیامین د قبیلې او د فریسي مذهبي فرقې پورې تړلی د یهودو د شریعت یو عالم ؤ. پولس رسول د خپل دین او عقیدې لپاره یو ځانګړی غیرت درلود. هغه لومړنیو کلیساګانو ته ډیرې ستونځې او مشکلات رسول. (فیلپیان ۳ باب: ۵ او ۶ آیتونه). کله چې هغه په حیرانوونکي توګه د عیسی مسیح سره مخامخ شو وروسته له هغې د هغه نوم د شائول څخه پولس ته چې د وړوکي په معنی ده بدل شو او په عیسی مسیح یې ایمان راوړ. له هغې وروسته پولس رسول ډیرو سفرونو ته ولاړ، د انجیل موعظه یې وکړه، د ایماندارانو ټولي یې جوړ کړل،هغوی ته یې تعلیم ورکړ او کلیساګانو ته یې ډیرې رسالی ولیکلې. ایمانداران عموماً پدې باور دي چې پولس رسول د مسیحي توب په وجه په روم کښې ووژل شو.

۲. ستري پيښې

- شائول (پولس رسول) کليسا ته ستونځې پيدا کولې، هغه د استيفان په سنګسارولو کښې هم ونډه لرله. اعمال ۷ باب : ۵۴ آيت تر ۸ باب : ۳ آيت
- د پولس رسول د ژوند بدلون. اعمال ۹ باب : ۱ – ۱۹ آيتونه
- پولس رسول په عربستان کښې زده کړه وکړه. غلاطيان ۱ باب : ۱۷ آيت
- پولس رسول او برناباس ټولې نړۍ ته د انجيل د وعظ لپاره غوره کړای شول.
اعمال ۱۳ باب : ۱ – ۳ آيتونه
- د پولس رسول لومړی بشارتي سفر. اعمال ۱۳ – ۱٤ بابونه
- د پولس رسول دويم بشارتي سفر. اعمال ۱۵ باب : ۳۶ آيت تر ۱۸ باب : ۲۲ آيت
- د پولس رسول دريم بشارتي سفر. اعمال ۱۸ باب : ۲۳ آيت تر ۲۱ باب : ۲۶ آيت
- پولس رسول په اورشليم کښې بندي کيږي. اعمال ۲۱ باب: ۲۷ آيت تر ۲۲ باب : ۲۹ آيت
- پولس رسول د محاکمې لپاره روم ته استول کيږي.
اعمال ۲۱ باب : ۲۷ تر ۲۸ باب : ۳۱ آيت

۳. کله چې پولس رسول خپل ايمان ثابت کړ

- پولس رسول د بشارتي سفرونو او د کلام د موعظې په برخه کښې د خدای له بلنې څخه اطاعت وکړ. اعمال ۱۳ باب : ۱ – ۳۳ آيتونه
- پولس رسول د مخالفتونو، ستونځو او ربړونو سره سره بيا هم د خدای د کلام موعظه کوله. د قرنتيانو دويمه رساله ۱۱ باب : ۱۶ – ۳۳ آيتونه
- پولس رسول په ځانګړې وفادارۍ سره کليسا ته خدمت وکړ. اعمال ۲۰ باب: ۲۰ - ۳۸ آيتونه
هغه د خپل ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې مسيح ته وفادار پاتې شو.
د تيموتاوس دويمه رساله ۴ باب : ۷ آيت

۴. د پولس رسول ماتې او تيروتنې

- د هغه په ژوند کښې يوه نامعلومه وضعه او حالت را پيدا شو چې هغه يې ډير کمزوری او ضعيفه کړ. د قرنتيانو دويمه رساله ۱۲ باب : ۷ – ۱۰ آيتونه
- هغه د نورو په وړاندې بې حوصلې ؤ. اعمال ۱۵ باب : ۳۷ – ۴۰ آيتونه

۵. مهم مثالونو او درسونه چې بايد د پولس رسول له ژوند څخه يې زده کړو:

- خدای کولای شي چې حتی هغه څوک چې د مسيحيانو په وژلو اخته دي هم وژغوري او ويې ښني.
- پولس رسول يواځې د خدای د فيض په هکله موعظه نه کوله، بلکې هغه پخپل ژوندانه کښې هم په هغه پورې تړلی ؤ او هغه دا فيض نورو ته په عمل کښې هم وښود.
- پولس رسول د خدای له روح څخه ډک يو سړی ؤ. اعمال ۹ باب : ۱۷ آيت

- پولس رسول خپل ځان د کومې وظیفې لپاره چې د خدای له لوري ورته سپارل شوې وه بیوسه ګاڼه خو هغه دا وظیفه د عیسی مسیح په ځواک سره ترسره کوله.
- پولس رسول د خپل ژوند تر وروستۍ شیبې پورې د هغه خدمت د سرته رسولو لپاره چې خدای ورته سپارلی ؤ وفاداره پاتې شو.
- د عیسی مسیح د ځواک په مرسته هغه ته هیڅ کار هم ناشونی نه ؤ.
فیلیپیان ۴ باب : ۱۳ آیت
- خدای تل د پولس رسول په وړاندې وفادار ؤ.

د خبرو اترو او مباحثې برخه

۱. د پولس رسول د ژوندانه په هکله یو له بل سره بحث وکړئ.
۲. که څه هم پولس رسول کلیسا ته ستونځې پیدا کولې او مسیحیان یې ربړول او ځورول خو بیا هم خدای هغه ته ښښنه وکړه او له هغه څخه یې کار واخیست. آیا تاسو کوم ناوړه کار ترسره کړیدی چې د خدای ښښنې ته اړتیا ولری؟
۳. پولس رسول خپل ژوند کلیسا ته وقف کړ او د هغې لپاره یې ډیرې ستونځې وګاللې. نن ورځ تاسو څرنګه کولای شی چې د هغه له مثال څخه پیروي وکړی؟
۴. پولس رسول د مسیح په وجه ډیرې ستونځې وزغملې، آیا تاسو د مسیح په وجه کومې ستونځې لیدلي دي؟ څرنګه؟ تشریح یې کړئ؟
۵. خدای څرنګه په کلیسا کښې ستاسو څخه کار اخلي؟

په دې لوست پورې تړلې د حفظې آیتونو برخه

۱. د لسمې او یوولسمې اونیو آیتونه یو ځل بیا تکرار کړئ. **یوحنا ۱۵ باب : ۴ آیت او د پطروس لومړۍ رساله ۵ باب : ۶ ــ ۷ آیتونه**

۲. د دولسمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه

اې ګرانو ایماندارانو، د خدای د مهربانۍ او رحمت په وړاندې هیله کوم چې خپل بدنونه د ژوندۍ او سپیڅلی قربانۍ په شان ورته وړاندې کړئ، ځکه چې دا هغه قرباني ده چې د هغه د خوښې وړ ده. او دا ښایي چې په همدې توګه د هغه خدمت او عبادت وکړو. د دنیا د خلکو د کړنو او د ژوندانه د تګلاری پیښې (تقلید) مه کوئ، بلکې پرېږدئ چې خدای ستاسو فکرونه او د فکر کولو طریقه واړوي او په بل څیر یې کړي، تر څو په یوه نوی انسان بدل شی. هغه وخت به تاسو وکړای شی چې د خدای اراده درک کړی او د هغه څه چې ښه، بشپړ او د هغه د خوښی وړ دی ترسره کړی.
رومیان ۱۲ باب : ۱ ــ ۲ آیتونه

د دې کتاب د لوستونو ضمیمې (پای لیکونه)

لومړۍ ضمیمه (پای لیک) :

د سپیڅلي کتاب د کتابونو ویشنه او نومونه

د زوړ تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

تاریخي کتابونه (۱۷)		شعري کتابونه (۵)	نبوتي کتابونه (۱۷)	
پیدایښت وتل لاویان شمیرل تثنیه	**تورات**	ایوب زبور بیلګې ټولنه د سلیمان غزلې	اشعیا ارمیا د ارمیا مرثیې حزقیال دانیال	**ستر نبوتونه**
یوشع منصفان روت لومړی سموئیل دویم سموئیل لومړی پاچاهان دویم پاچاهان لومړی تواریخ دویم تواریخ عزرا نحمیا استر	**تواریخ**		هوشع یوئیل عاموس عوبدیا یونس میکاه ناحوم حبقوق صفنیا حجي زکریا ملاکي	**واړه نبوتونه**

د نوي تړون د ویشنې جدول او د هغې د کتابونو نومونه

د نوي تړون څلور برخې			
انجیلونه	د رسولانو اعمال	د رسولانو رسالې	مکاشفه
متی مرقس لوقا یوحنا	د رسولانو د اعمالو کتاب	د رومیانو رساله د قرنتیانو لومړۍ او دویمه رساله د غلاطیانو رساله د افسسیانو رساله د فلیپیانو رساله د کولسیانو رساله د تسالونیکیانو لومړۍ او دویمه رساله د تیموتاؤس لومړۍ او دویمه رساله د تیطوس رساله د فلیمون رساله د عبرانیانو رساله د یعقوب رساله د پطروس لومړۍ او دویمه رساله د یوحنا لومړۍ، دویمه او دریمه رساله د یهودا رساله	مکاشفه

دویمه ضمیمه (پای لیک): د نوي تړون د کتابونو د نومونو مخفف

بشپړ نوم	مخفف
پیدایښت	پیدایښت
وتل	وتل
لاویان	لاوی
شمیرل	شمیرل
تثنیه	تثنیه
یوشع	یوشع
منصفان (قاضیان)	منصفان
روت	روت
لومړی سموئیل	۱ سمو
دویم سموئیل	۲ سمو
لومړی پاچاهان	۱ پاچاهان
دویم پاچاهان	۲ پاچاهان
لومړی تواریخ	۱ توار
دویم تواریخ	۲ توار
عزرا	عزرا
نحمیا	نحمیا
استر	استر
ایوب	ایوب
زبور	زبور
بیلګې	بیلګې
ټولنه	ټولنه
د سلیمان غزلې	غزلونه
اشعیا	اشعیا
ارمیا	ارمیا
د ارمیا مرثیې	د ارمیا مرثیې
حزقیال	حزقیال
دانیال	دانیال
هوشع	هوشع
یوئیل	یوئیل
عاموس	عاموس
عوبدیا	عوبدیا
یونس	یونس
میکا	میکا
ناحوم	ناحوم
حبقوق	حبقوق
صفنیا	صفنیا
حجي	حجي
زکریا	زکریا
ملاکي	ملاکي

د نوي تړون د کتابونو د نومونو مخفف

بشپړ نوم	مخفف
متی	متی
مرقس	مرقس
لوقا	لوقا
یوحنا	یوحنا
د رسولانو د اعمالو کتاب	اعمال
رومیان	روم
د قرنیتانو لومړۍ رساله	۱ قرنت
د قرنتیانو دویمه رساله	۲ قرنت
د غلاطیانو رساله	غلاط
د افسسیانو رساله	افسس
د فیلیپیانو رساله	فیلیپ
د کولسیانو رساله	کولس
د تسالونیکیانو لومړۍ رساله	۱ تسالو
د تسالونیکیانو لومړۍ رساله	۲ تسالو
د تیموتاؤس لومړۍ رساله	۱ تیمو
د تیموتاؤس دویمه رساله	۲ تیمو
د تیطوس رساله	تیتوس
د فلیمون رساله	فلیمون
د عبرانیانو رساله	عبران
د یعقوب رساله	یعقوب
د پطروس لومړۍ رساله	۱ پطروس
د پطروس دویمه رساله	۲ پطروس
د یوحنا لومړۍ رساله	۱ یوحنا
د یوحنا دویمه رساله	۲ یوحنا
د یوحنا دریمه رساله	۳ یوحنا
د یهودا رساله	یهودا
مکاشفه	مکاشفه

دریمه ضمیمه (پای لیک) :

د هرې اونۍ د لوستونو اړوند شخصیتونو او موضوعاتو ته کتنه

	پیدایښت	آدم
	د یهودو د قوم مشر	ابراهیم
	وتل	موسی
	برلاسې او بریا	یوشع
	منصفان	جدعون
	پاچاهي	داؤد
	جلاوطني (تبعید)	دانیال
	بیرته راستنیدل	نحمیا
	چوپتیا	بیاکتنه
	انجیل	مسیح عیسی
	کلیسا	پطروس
	ماموریت او رسالت	پولس

څلورمه ضمیمه (پای لیک) :

د سپیڅلي کتاب هغه آیتونه چې باید زده یې کړو

د لومړۍ اونۍ د لوست په تړاو آیت
مونږ ټول مړه کیږو ځکه چې د ګناهکار آدم له نسل څخه یو، ځکه هر چیرته چې ګناه وي مرګ هم شته. خو ټول هغه خلک چې د مسیح پورې تړاو لري له مړینې وروسته به بیرته راژوندي شي.
د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب : ۲۲ آیت

د دویمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
هغه وخت ابرام (ابراهیم) پر خدای اعتماد وکړ او په همدې وجه خدای هغه عادل وګڼه.
پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت

د دریمې اونۍ په تړاو آیتونه
د ایمان په وجه وه چې کله موسی لوی شو ویې نه غوښتل د فرعون په مانۍ کښې پاتې شي او د هغه لمسی وبلل شي، هغه دا غوره وبلل چې د خدای د رنځیدلو خلکو سره ستونځې وزغمي نه چې په پاچاهي مانۍ کښې څو ورځې د ګناه خوند واخلي.
د عبرانیانو رساله ۱۱ باب : ۲۴ ــ ۲۵ آیتونه

د څلورمې اونۍ د لوست په تړاو آیت

هو، قوي او زړور اوسه، ډار او ویره له ځانه لیرې کړه، په یاد ولره هر چیرته چې لاړ شې

زه چې ستا خدای یم ستا سره به یم.

یوشع ۱ باب : ۹ آیت

د پنځمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
خو جدعون ځواب ورکړ: نه زه ستاسو پاچا کیږم او نه هم زما زامن. ستاسو پاچا خدای دی.
منصفان ۸ باب: ۲۳ آیت

د شپږمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
اې خدایه، اې زما پټن ځای او ژغورونکیه! زما خبرې او فکرونه دې ستا د خوښې وړ وي.
زبور ۱۹ باب : ۱۴ آیت

د اومې اونۍ د لوست په تړاو آیت
د بابل پاچا دانیال ته وویل: ستا خدای چې تل د هغه عبادت کوې تا دې خلاص کړي، وروسته یې هغه د زمریانو کوهي ته وغورځاوه.
دانیال ۶ باب: ۱۶ آیت

د اتمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
نه ښایي چې غمژن واوسی، بلکې باید جشن ولمانځئ او خوشحاله اوسئ، وخورئ، وڅښئ او له خپل خوراک څخه فقیرانو ته ورکړئ، دا د خدای خوښي به ستاسو د قوت پانګه وي.
نحمیا ۸ باب : ۱۰آیت

د نهمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه
تیرو شویو درسونو آیتونو ته یوه لنډه کتنه

د قرنتیانو لومړۍ رساله ۱۵ باب : ۲۲ آیت
پیدایښت ۱۵ باب : ۶ آیت
د عبرانیانو رساله ۱۱ باب : ۲۴ ــ ۲۵ آیتونه
یوشع ۱ باب : ۹ آیت
منصفان ۸ باب : ۲۳ آیت
زبور ۱۹ باب : ۱۴ آیت
دانیال ۱۳ باب : ۱۶ آیت
نحمیا ۸ باب : ۱۰ آیت

د لسمې اونۍ د لوست په تړاو آیت
په ما کښې پاتې شئ او پرېږدئ زه هم په تاسو کښې پاتې شم، ځکه کله چې یو ښاخ له ونې څخه بیل شي نور نشي کولای چې میوه ورکړي، تاسو هم زما څخه بیل نشی کولای چې بارداره شی او ګټور اوسی.
یوحنا ۱۵ باب: ۴ آیت

د یوولسمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه
نو د خدای د ځواکمن لاس لاندې عاجزي وکړئ ترڅو په ټاکلي وخت کښې تاسو سرلوړي شئ. او خپلې ټولې اندیښنې هغه ته پرېږدئ ځکه چې هغه ستاسو پاملرنه کوي.
د پطروس لومړۍ رساله ۵ باب : ۶ ــ ۷ آیتونه

د دولسمې اونۍ د لوست په تړاو آیتونه
اې ګرانو ایماندارانو د خدای د مهربانۍ او رحمت په وړاندې هیله کوم چې خپل بدنونه د ژوندۍ او سپیڅلی قربانۍ په شان ورته وړاندې کړئ ځکه چې دا هغه قرباني ده چې د هغه د خوښې وړ ده. او دا ښایي چې په همدې توګه د هغه خدمت او عبادت وکړو. د دنیا د خلکو د کړنو او د ژوندانه د تګلاری پیښې (تقلید) مه کوئ، بلکې پرېږدئ چې خدای ستاسو فکرونه او د فکر کولو طریقه واړوي او په بل څیر یې کړي تر څو په یوه نوي انسان بدل شی. هغه وخت به تاسو وکړای شی چې د خدای اراده درک کړی او هغه څه چې ښه، بشپړ او د هغه د خوښی وړ دي ترسره کړی.
رومیان ۱۲ باب : ۱ ــ ۲ آیتونه